



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ړنــــګ ملــــــت

**لیکوال: مسعود رښتین**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب د محتوا په ارتباط:

دا مالومه خبره ده چې په پښتو ادب کي نوي قالبونه داخل سوي دي او تر ډیره د ازادې منظومې، نظم او غزل څو برخي یادولای سو، د همدې په تړاو ما هم ددې کتاب په منځپانګه کي داسي اپنډیکسونه ځای کړي دي، چې د ناول له چوکاټه ځان باسي، هغه که هري برخې ته ځان داخلوي خو هغه د لیکوال خبره همیشه له درده زګیروی خیژي، ما هم تر ډیره بریده د زړه او ددې ټولنې د رسم او رواج څخه راپیدا شوی درد په ځینو برخو کي انځور کړی دی.

مالومه خبره ده غبرګونونه به ولري، خو له ځان سره یو په زړه پروي پېغام هم لري او دا پېغام د ټولنې د سمون، ناسمو رواجونو ماتیدو او د یویشتم قرن د انسان غوندي ژوند کولو په لور مي ټولنه رهبري کړې ده، زه به حتما نیمګړتیاوي لرم، خو دا هم ومنئ چې د ملت او ټولنې له درده ځوریږم چې هغه ترسیم او انځور ته بې اختیاره څو کرښې ستاسو درانه حضور ته وړاندي کړي، هیله ده چې د پند اخیستلو په مانا یې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو رښتين.

په ښار کي په پښو روان وم پر يو سپينږيري مي سترګې ولګيدې چې رنګ يې بلکل د عمرونو خوړلې انسان ته ورته وو خو په عمر دومره زوړ نه وو، زماهسي هم له وړو او زړو سره ډير زړه لګيږي هوا ګرمه وه د کندهار ګرمي وه تابه فکر کاوی چې د ټولې نړۍ ګرمي همدلته په کېږه راغلې ماهم له موقع څخه استفاده وکړه د يو شناخته په حيث مي سلام او روغبړ ورسره وکړ خو سپينږيری همداسي سره و وښوريدی پوه سوم چې د خبرو علاقه نه لري، له جېب څخه يې د نسوارو ښه پخوانی دبلی را وکېښ ښه سات يې ورته کتل وروسته يې نسوار ترې وکړ او څنګ يې ووهی، ما بيا هڅه وکړه چې پر خبرو يې راولم لکه د نوې ناوي چې خبري په ناز او نخرو کوي.

پوښتنه مي وکړه کاکا څنګه يې؟ وږی يا تږی خوبه نه يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يه کاکا ددې دنيا به څه تنده او لوږه وي الله ج مو دي د ذنکدن له تندي وساتي.

له خبرو يې اندازه راکړه چې مسافر دی ځکه د خبرو انداز يې د زابل او غزني د خلکو په څير وو نو مي له موقع استفاده وکړه کاکا د زابل يې او که د غزني؟

-ته څه پوه سوي چې د زابل يم؟

کاکاخو له خبرو دي پوه سوم زه هم د زابل يم خو کلونه وړاندي د مهاجرت په شپو او ورځو کي راغلي يو همدلته ژوند کوو.

-بس بدمرغه وطن مو دی چې هرڅوک راسي موږ پر سر سر ټکوي، ددنيا ټول انقلابونه زموږ پر سر راغلي هر بدمرغه د خپل زرو ازمايلو په موخه همدلته راغلي، زه هم د صحرايې او ښاري ترمنځ توپيرونو او چلندونو زوړ کړم.

د کاکا خبرو خوند راکړ خو ډير ستړی ښکاريده هوا هم پر ګرميدو وه لږ يخې اوبه مي ورته راوړي د بوتل سر مي ورخلاس کړ کاکا يو غوړپ ترې وکړ سر يې بيرته پر وتړی.

ما پوښتنه ترې وکړه: کاکا له ژوند څخه ولي دومره ګيلمند يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ولي به نسم ګیلمند! زما توره ړیره سپینه سوه او سپینه ږیره هم دادی پر ختلو ده لا هم زموږ حالت نه دی بدل سوی، موږ په یوه جغرافیه کي اوسو خو لامو هم د ژوند سطحې اسمان او ځمکه توپیر لري، د ښار او صحرا خلک یو له بل څخه ځانونه بیګانه ګڼې، په ښارو کي دا د اوس زمانې څه ورته وایې رواشنفکران که څه بلاوي دي دوی ځانونه په افراط کي لیوني کړي او د صحرا خلکو په تفریط کي خپل ژوند په دوزخ بدل کړی.

کاکا څنګه افراط او تفریط؟

-ته نو اوس راسه دی له ما پوښتنه کوي.

یایا کاکا زما سره نه سو په خلاس چې دا څنګه لغاتونه دي؟

باندار مو ښه ګرم وو خو وخت هم انتظار نه کوی، باندار مي بس کړ ماول کاکا شپه دي زما سره ده ښه مجلس به هم وکړ، بغیر له پنج او پړیس یې راسره ومنله او روان سو، ټکسي ته وختلو د کور پر طرف مو حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موټر کي ناست وو د ولایت مقام سره پر عیدګاه دروازه پورته ختلو څو فقیرانو د موټر پر ښیښو لاسونه د خیرات لپاره ونیول کاکا اوف کړل:

همدا ستاسو د ښار ژوند دی په ولایت کي د ناستو کسانو ژوند او د همدې فقیرانو ژوند سره پرتله کړه، ما په صحرا کي هیڅ داسي فقیران نه دي لیدلي داټول د نسمارانو له برکته همدا حالت دی.
حیران سوم ومي پوښتل کاکا نسماران بیا څوک دي؟
همدې وخت کي ټکسي یو بل لاروي ته و دریده هغه هم را وختی موټرحرکت.وکړ.
کاکا وویل:

نسماران همدا دي سي دیموږ حق یې خوړلی، نسونه یې دومره غټ کړي چې نه دیتا حق ګوري نه دیما مازي یې پکي جایوي، ددوی ماڼۍ او قصرونه دیموږ په وینو جوړسوي، په ښار کي هر فقیر له موره فقیر نه دی پیداسوی، د چا حق خوړل سوی، د چاځمکه غصب سوي، پر چا زورواکي اوښتي او له چا ټوپکدارو غلو هرڅه وړي دي، ذکاتونه خلک نه ویشي، یا هم د مسجد ملا په ذکات دروي، خیراتونه خلک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، همدا فقیران بیرته مجبوره سي د خپلو خولو او وینو په قیمت وداني سوي ماڼۍ ته د خیرات لپاره لاسونه جګوي او په پښو کي یې سر ږدي، دوی غلا ته مجبوریږي غلا کوي، ملي امنیت ته ګواښ پیښوي، مهاجرت کوي بیا نو دیموږ هیواد کي بشري قوه کمیږي همدا ټول د نابرابرۍ دیلاسه.

ګڼه ګونه زیاته وه د سړک پر جمپ یوه ماشومه نجلۍ د خیرات ټولولو لپاره ولاړه وه پر سر یې له ګرمي څخه اوبه شیندلې زموږ موټر ترې تیر سو کاکا ته بیا غوصه ورغله.

ایه نو ویني، دا د چا له لاسه، نسوار یې تو کړ ښیښه یې پورته کړه، ویې ویل: د همدې ماشومي پلار به یا په غریبۍ کي مړسوی وي یا په نظام کي خو زموږ حکومت دومره هیرجن دی سي میړه مړ که مړانه یې هم مړه کوي، بیا دوی ته فرق نه ورکوي چې زما د همسنګره د کورنۍ به څه حالت وي؟ هغوئ به د خوړلو او اوسیدلو څه لري او که نه.

موټر بریک وواهه زموږ ځای راورسیده کاکا ته مي وویل راځه چې ځای مو راورسیده کاکا هم را شوه سو او د کور په لور مو حرکت وکړ تر کوره مو هیڅ خبره ونه کړه همدا وخت د مازدیګر لمانځه مهال وو معمان خانې ته راغلو اودسونه مو وکړل جماعت ته د لمانځه لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړو تر لمانځه وروسته سمدستي د معمان خانې په لوري راغلو. کاکا ته مې تور چاى راوړ ترڅو ارام وکړي او د شپې راته کيسې وکړي کاکا مي ارام ته پريښود زه د کور د کارونو لپاره دباندي راووتم.

## د صحرايې سيمو کيسې

ماښام راغلم معمان خانې ته را ننوتم کاکا سرلګولى وو نسوار يې کړې وو چې پر مايې سترګې ولګيدي سر يې راپورته کړ نسوار يې تو کړ ويل ښه سو چې راغلې پر زړه مي ډيري خبري دي همدې ګښلو راڅخه سپينزيرى جوړ کړى هر وخت به مي کوشش کاوه سي له يوکس سره دي زړه خواله وکړم خو الله ج ته راباندي برابر کړي.
زما يې هم وخبرو ته ډيره تلوسه وه وقفه مي ونه کړه ماول کاکا د ښار د خلکو ځيني ستونزي خو دي بيان کړي په صحرا کي څه حالت دى د هغه ځاى کيسې راته وکه.
د صحرا به نو څه کيسې وي هلته هم خلک په هغه زمانه کي ژوند کوي سي واى نړۍ دي غوايې پر ښکر ولاړه ده که يې سر و ښوروى نړۍ چپه کيږي، د صحرا د خلکو به هم له کومي ناروا درته و ږغيږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته اوس هم خلک په بدو کي نجوني ورکوي.

څنګه په بدو کي؟

ته لا په دي شيانو نه پوهيږي هلته سي ورور يا پلار قتل وکړي په جوړجاړي کي يې د کورنۍ څخه يوه ښځه ورکوي بياجوړه سره کوي.

تعجب يوړم کاکا نو دا خو په اسلام کي نسته دا څنګه مسلماني ده چې ګنا ورور وکړي او سزا يې خور ته ورکول کيږي، ځکه الله ج فرمايلي دي چې هيڅوک د بل چا د بار پورته کولو مسؤل نه دي هرڅوک بايد خپل بار په خپله پورته کړي.؟

يې سر مه پسي ګرزوه نو داخو يې اوله نده ټول وخت يې په همدي کي راتير سو، پر ځمکو ددوی جګړې وي، پر ملايې ددوی جګړې وي، پر بوټو دډوی جګړې وي، ملايې يې په زکات ورکړي وي.

کاکانو زکات خو بغير له عوض څخه د خپل مال صدقه ده چې بايد غريبانو ته ورکړل سي که په زکات کي عوض موجود سو نو بيا کله فرض پر ځای کيږي؟

کاکا د چايو ګېلاس ورپورته کړ يو غوړپ يې ترې کش کړ، پلمېټ يې نوی کړ سر يې بالښت ولګوی.

خو دا اوس هلته رواج سوی ده، د پښتنو رواجونه پښتنو تر هرڅه لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي، ځکه دی وایې چې هغه کوو څه چې مو پلار او نیکه کول.

نو کاکا که یې پلار او نیکه پر غلطه لار روان وو بیا هم دوی پر هغه لار ځي؟

نور یې په سمه او غلطه دوی سر نه خوږوي.

کاکا خو کله چې نبي ع ص د اسلام مبارک دین راوړ نو دده خپل سکه اکا ابي لهب ځکه تر پایه پر خپل شِرک پاته سو چې ویل به یې زه د خپل پلار او نیکه پردین ځم حال دا چې د پلار او د نیکه دین یې اصلاً روا نه وو، بس زموږ خلکو ته همدا لویه خبر ورپاتي ده چې بس پلار و نیکه مو کول.

په صحرایې سیمو کي پلرونه په خپلو اولادونو چندان تعلیم نه کوي، دوی یې د ځمکو په کارو مصروفه کړي، ځکه پلرونه یې وایی سي تعلیم ګټه نه کوي او که تعلیم وکړي پیسې نه سي په ګټلای هغه یې کله اولادونه نورو ملکو ته ولاړسي کله په کلي کي ورځخه سم دم نشه یې جوړسي.

نو کاکا دوی اوس هم تعلیم د پیسو لپاره کوي که پیسې نه وي دوی په خپلو اولادونو تعلیم نه کوي؟

یایایا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیم پیسو ته رسیدو لار نه بلکې خپل رب ج ته د رسیدو او د هغه د پیژندلو او ځان تسلیمولو لار ده.

جاهل ملت نه د هیواد په ګټه دی او نه د ځان، ملت باید لوستی وي، نالوستی ملت پر نشت حساب دی او د هیواد لپاره تدریجي مرګ دی.

ماشوم راغلې د لاسو پریمینځلو بږغ یې وکړ ډوډۍ هم راغله فکر مي وکړ چې کاکا به پر ارامه ډوډۍ وخوري هسي مو هم ټوله شپه سره مخه ده، ډوډۍ مو پیل کړه پر ډوډۍ کاکا له ماشومانو سره لږ خبري وکړي نور یې پام خپلې کاسي ته کړ.

ډوډۍ وخوړل سوه، کاکا هم لکه ډاکتر چې دوا پر ډکه خوا ورلیکلې وي، سمدلاسه یې د نسواري بوتل ته لاس کړ ماهلک ته وویل چې چای ژر درسره ړاوړه فکر مي کاوه چې بانډار باید سوړ نه سي.

## اښه دا افغانان هم...!

کاکا هم په خپلو زړو غاښو کي غاښ لرګی وهی، پر غالۍ یې واړه د ډوډۍ پاتي شوني په خپلو زړو ګوتو ټولو یو اوبل خوا یې کتل.

وروسته یې بږغ وکړ: اښه دا افغانان هم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعجب ورته يوړم اه کاکا څنګه...؟

هو هو.

دوی همیشه پر خپل سر بل سوي اور ته لرګې ور اچوي او ښه يې ګرموي، پر موږ هره غميزه زموږ له ځانغوښتنو راځي، ته لا ماشوم يې د انګريزانو له وخته هغه کوفار سي راغلي وو ديموږ وطن ته.

هو هو کاکا په تاريخ کي مي لوستي دي، ترې خبر يم.

لههغو راځه تر ارميکايانو(امريکايان) هرڅه زموږ د خپلو له لاسه.

کاکا نو څنګه دا هرڅه موږ په خپله کړي دي، خو امريکايان راغلل، انګريزان راغلل، روسان راغلل ټول په زور راغلل.

کاکا نسوار تو کړ، پر ږيره يې خپل زيږه لاسونه راتير کړل ويې ويل: اول ځل شاشجاع انګريزان نه راوستل د خپل قدرت دي ساتلو لپاره؟ روسان خلقيانو د خپلو قدرت د ساتلو لپاره همدلته و نه ساتل؟ امريکايانو څو دوه تابيعتو والا پر موږ و نه تپل؟

چپ سوم، تر ډيره د کاکا خبري پرځای وي، ماهم په دقيقو تاريخو کي لوستلي وو.

چای يې راوړي کاکا ته مي تور چای ور واچوی، تر کيلاس مخکي يې يو پلمېټ خولې ته واچوی د کوټې څلورو کونجو ته يې وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورغبرګه کړه کاکا خو افغانانو هم جهاد وکړ، روسان، انګریزان او امریکایان یې ټول مات کړل.

کاکا: دیغم مات دي سي موږ دوی مات کړل، له انګریزانو سره جهاد ښه وو هغه وخت هم د لویو قومونو ترمنځ د واک پر سر جګړې وي، خو د روسانو په وخت کي جهاد نه وو تجارت وو، مشرانو یې د امریکایانو پیسې د پاکستان په لاس ترلاسه کولې او کشری طبقې یې پر عقیده جهاد کاوه مشران یې ټول غله وو، هغه ځوانان چې تازه به یې بریتونه راغلي وو او یا به یې د ږیرې نرم ختونه پرمخ راغلي وو هغوی د اسلام او خپلواکۍ پر عقیده جهاد وکړ، مشران یې هلکه ته ترمانښه په نوم او هغه بل چیخی ورته وایې تخلص تخلص! په ټولو یې پیزنئ هغوی هر یوه د پیسو بوجۍ غلاکولې، یوبل یوه یې مرمۍ او هوانونه غلاکول ټول همداسي درواخله.

ماول کاکا چای سړیږي چای درواخله.

کاکا: نه سړیږي تر چایو دا دیما او دیتا مجلس ډیر ګرم دی.

نو کاکا ددي ټول سبب څه وو؟ ولي موږ افغانان په ځانو نه پوهیږو؟

کاکا: ددې لپاره چي د یوې ناروغي درملنه وشي، اړینه ده چي د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغي سمه څیړنه وشي، علتونه یې معلوم شي او وروسته یې درملنه وسي.

د افغانانو غمیزه، لکه چې تاریخي شواهد یې را زده کوي، تل د کورنیو بې اتفاقیو او له بهر څخه د پراختیا غوښتونکي هیوادونو د تیرو لاس وهنو او توطیو په واسطه پر موږ تپل شوې ده، کورنیو بې اتفاقیو په تیره بیا د قدرت مدعیانو ترمنځ اخ او ډب، ځواکمن افغان دولتونه له کمزور تیا سره مخامخ کړي دي. داسي هم شویدي چې د خپل افغان ورور د زورولو او وژلو لپاره یې د بهرنیانو سره لاس یو کړی او هم یې خپلواکه هیوادو ته زیان رسولی ده او هم د نورو غړوندي په خپله غاړه کي اچولي دي.

نو ځکه وایم چې تل د افغانانو په غمیزه کي بهرنیو دښمنانو د افغانانو په منځ کي د کمزور، په شخصي ګټو مینو، ځان غوښتوونکو کسانو او کړیو څخه د خپلو استعاري پلانونو د پلي کیدو لپاره ګټه اخیستې ده، همدارنګه استعاري ځواکونو د خپلو اجنټانو څخه د قوم، ژبې او مذهب په نومونو د افغانانو د بې اتفاقۍ لپاره کار اخیستی او د افغانانو مقاومت یې کمزوری کړی ده. بهرنیو استعماري ځواکونو تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو افغانانو له بې اتفاقۍ، څخه ګټه اخیستې ده، چې د قدرت تږي او لیوني دي.
کاکا چای ور واخیستې ومي غوښتل یو ګړی یې ارام پرېږدم وروسته به ورسره پر نورو موضوعاتو هم خبري وکړم.

## زموږ مسؤلیت څه دی؟

نو کاکا اوس موږ څه باید وکړو چې له دې پردیو خلکو خلاس سو،

کاکاوویل: په اوس وخت کي اړتیا ده چې د شته امنیت ساتنه وکړو، بد امني ته لار هواره نه کړو، له ستونزو سره مبارزه وکړو، پردیو ته د راتک زمینه مساعده نه کړو، بغاوت، شرارت او مقاومت ټول د یوه خره غوږونه دي، موږ بیا باید نه د ازادۍ او نه د هم د خرمستۍ په جګړه کي ګډون وکړو او نه هم ورته چک چکې وکړو، د اوسنې حالت د ښه کیدو لپاره دعا باید وکړو، ګډ کار باید وکړو، باید متحد سو، او یوبل ته لاس ورکړو، موږ نور د هیڅ ډول جګړې لمن باید ونه نیسو او نه د جګړه مارانو په پښو کي بیا سر کیږدي، د هر چا چې پر وطن د بلې جګړې زړه پیرزو کیږي مړه دي سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقیعت هم همداسي ده چې که غواړئ چې یو ملت له فقر، بیکاري، غُربت، شر او جګړې څخه را وګرزوئ نو د تعلیم زمینه ورته مساعده کړئ. هغه هیوادونه چې ملتونه یې بې تعلیمه وي همیشه د تزلزل په حالت کي وي او هیڅکله مستحکم اوسیدلی نه شي.

کاکا لږ خواشینی سو، بیایې پر تندي لاس ونیول، ددې ملت نه یوه ده نه یې دوي دي پر کومه ناروا، فساد، نابرابري، تعصب او خپلمنځي اختلافاتو به درته خبري وکړم.

یو ګړی مي ارام پریښود، بل ګېلاس چای مي ور واچولې او سر یې دیوال ته تکیه کړ، ماهم ږغ نه لاره ترڅو لږ ارام وکړي له ماپښین راهیسې یې ږغوم لکه بې پیلوټه طیاره ستړیا نه لري.

سپینږیري هم چې یوګېلاس اوبه یې چښلې نه وي بیا یو ځل دباندي تیریږي ده هم له معمول سره سم یاد حرکت ترسره کړ، دباندي ورسره ووتم بیرته ترې را غلم ګړی وروسته کوټې ته راغلی، پرمخ یې اوبه تیري کړي وي، لږ تازه سوی وو.

کاکا واقیعت هم زما پر زړه خبري کولې، تابه ویل چې زما په زړه خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خبرو یې دومره خوند راکاوه چې هیله مې درلوده د شپې خوب ونه کړو او کیسې وکړو.

## نړیوال او زموږ غم!

کاکا په خبرو پیل وکړ ویې ویل چې: دوی فکر کوي چې نړیوال زموږ له غمه مړه دي.

کاکا کوم نړیوال او څوک داسې فکر کوي؟

همدا ملت بیچاره! خو خبر نه دي چې نړیوال او په ځانګړې توګه هیڅ هېواد نه غواړي، چې افغانستان دې ددوی د پیسو او مرستو په واسطه په بنسټیزه او اساسي توګه و رغول شې، ملت دې جوړ سي او له نړۍ سره دې سیالي وکړي؛

دلته هره اوښکه یو تمثیل دی، له امریکا او ټولې نړۍ څخه د افغانستان په لور په ټانکرونو، بیلرونو او بکسونو ډالر راغلل، دا ددې لپاره نه چې افغانستان په و رغول سي، بنسټیزې او اساسي پروژې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره سي، د فقر او لوږي کچه په راټيټه سي، د تعليم لپاره پري اساسي او بنيادي کارونه ترسره سي، د کار اساسي زمينه پري مساعده سي؛ بلکې يوازي د ارام او فکري تمرکز بدلولو لپاره په مصرف ورسيدي، ټول په کارو اخته وو خو خبر نه وو چې د څه لپاره او ګټه يې څه ده.

هر چا چې به پر پيسو خيټه واچوله هغه به هڅه کوله چې ټولي د ځان په نامه کړي، چې په اخير کې موږ په هغه کيفيت بنسټيزي پروژي افتتاح کړي چې رنګ او کيفيت به يي د پروژې نه وو، زما ښه پياد سي چې زموږ په ولسوالی کې يې پر عامه ځمکه باندي چې اوس مي سم ذهن ته نه راځي د ۱۰۰۰ په شاوخوا کسان په ۲۰۰ افغانۍ د ورځي روزانه کوله پيسې د امريکا وي او پر عامه ځمکه يې بغير له ضرورته او يو منظم پلانه غارونه وکښل چې تراوسه همداسي پاتي دايې ما دسترګو ليدلی يومثال در کړ چې ټول مصارف يې پر همدې پروژه قياص کړئ.

فکر يو ورم د کاکا خبري رښتياوي، زموږ ملت په جهالت کي ترستونې غرق وو، خو دوی موږ په يوه ډبه غوړو، بيسکوټو او يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوجۍ غنمو تر ایستلو، کله به راته پاکستان وراسته غنم راولیږل او کله به یې یوبل هیواد. همدا ملت یې ټول وخت په لاس نیولو مجبور کړ، ملت فکر کاوه چې همیشه به د بل تیاره یا ورسته را رسیږي د ځان غم یې نه کاوه د نس غم اخیستی وو، خدای خبر څه وخت به پردی کټ په نیمه شپه ترې یوسي همداسي وسو لامو بیا هم ملت په هغه حالت کي قرار لري، زموږ اساسي ستونزه د نس ډکولو نه وه، د ملت جوړولو وه، زموږ د مکتب دیوالونه سیمټي جوړ وو خو نصاب یې بلکل پر پردي معیار جوړ وو، د هر صنف نصاب د هغه صنف دزده کوونکو تر سطحې دوه چنده لوړ جوړسوی وو، اخیر به هم زده کوونکي ښه سم شنه په والذي فاریغیدل، زموږ ستونزه د یو ښه ښوونکې وه، زموږ ښوونکي چې به صنف ته راغله ټول وخت به یې په ټلیفون او خبرو تیر کړ، ډیر وخت به داسي وي چې یو ښوونکی به راغلی زده کوونکو ته به یې وویل چې نن سترې یم باندار به وکړو، زده کوونکو هم داحالت پر اسمان غوښتی هغوی د خپل راتلونکي په اړه فکر نه کاوی، ښوونکي هم د خدای مسؤلیت، نبوي رسالت او حلال معاش غم نه خوړ ځکه چاترې پوښتنه نه کوله.

ساعت ته مي وکتل پاو کم لس بجې وي، کاکا ته مي وویل خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبه نه درځي.

سترګې يې په زور سره کش کړې شا او خوا يې وکتل يايا خوب دي هغوی کوي چې غم نه لري.

کاکا نوتاسو خو په پرديو غمونو خپله زنده ګي خرابه کړې.

## تلويزون که کتابتون!

په همدې وخت کې يې پر تلويزون سترګې ولګيدې.

ښا نوتا هم دا دې خارجانو شی لګولی؟

هو کاکا کله کله پکښې خبرونه اورم او د وطن له حالاتو ځان خبروم.

په کور کې کتابتون لري٠؟

هو کاکا ښه غټ کتابتون لرم.

نو ديموږ د ملت غُربت خو دادی چې د تلويزون لپاره ښه لويه الماری جوړوي، لوی ډيش(تلويزون) پکښې پروت وي خو چې پوښتنه ترې وکړې هلکه کتابتون لري سر و ښوروی ولا پيسې نه لرم، نو درواغجن ملته چې د ډيش لپاره پيسې لري او د کتابتون لپاره دې پيسو ته ملاماته وي خود به همداسې خوار يې.

د کاکا خبري ډير خوند راکړ ځکه په ۲۱ پيړۍ کې ترټولو غني کس هغه دی چې د تلويزون پرځای په کور کې لوی کتابتون ولري، زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزه غریبي نه ده، ملامتي نه منل ده.

کاکا خو ددې ملت روزونکي استادانو سره هم ډېر ظلم کیږي.

هو هو پوهیږم.

نسوار یې وکړ او پښې یې و غزولې ویې ویل: د استادانو سره هم په دې هیواد کې سم چلند نه دی سوی، موږ یې وینو چې همیشه ددوی پر معاشاتو غم وي، کله یې وځنډوي، کله یې بیخي ورنه کړي او که یې ورکړي هم دومره لږ معاش دی چې معلم مجبوره کیږي یو بل شخصي کاروبار یې ترڅنګ وکړي بیا نو د معلم فکر پر دوو برخو وویشل سي، شخصي کاروبار او دولتي وظیفه. زموږ د ښوونکو لږ معاشاتو او په ټولنه کې ددوی حیثیت خلکو له پامه غورځولی، د والي، وزیر، قومندان او ولسوال خو ښه سم کاروبارونه جوړ وي بس یو همدا غریب معلم دی چې نه یې معاش لوړیږي او نه پر وخت ورکول کیږي، خو الله ج دوی تر هر چا نژدې دي، همدا استادان دي چې د نبي ع ص د سپیڅلې مسلک تقلید کوي او راتلونکی نسل روزي.

یو ګړی مې کاکا ارام ته پرېښودی او زه هم د کور لوري ته راغلم، کور کې ټول ویده وو زه او کاکا ویښ پاته وو فکر مې وکړ چې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن شپه ښه موقع ده خوب سبا هم کیږي خو خدای خبر حاجي کاکا بیا چیري او پر کومو وطنو وي، بس دباندي ووتم دوکانونه خلاس وو د سپینږیرو د عمر په پای کي د خوراک داسي شیان خوښیږي چې پاسته وي ځکه غاښونو یې ځواني تیره کړي وي د کندهار د تازه توتو وخت وو تازه توت مي په پنځه دقیقې کي راوړل، کوټې ته چې را ننوتم کاکا له ځان سره مړه غزله ترنُم کوله اکثره په ذهن ځوان سپینږیري همداسي وي، خو بس زما د ښنو ږغ یې د ترنُم مرغه والوزوی، توت چې یې ولیدو ویل تاهم با تر ښه ډیرو دي کیناستلو اراده کړي.
و شرمیدم، ماول هسي نه خپه سي ماول نه نه زه ستا عسکر یم پر تا امر پر ما اجرا مازي ږغ کوه چې خوب درغلی نور تا او خوب سره پریږدم.
ویل یې: یا هسي ګف مي کاوه، بیابه داسي مجلس پیدانه کړم، توت اماده سو خوراک مو پیل کړ یو کړی مو د ګیلو او شکایتو ژوند شاته پریښود او د توتو په خوړلو مو پیل وکړ، همدې وخت کي مي ذهن ته راغلل چې شلومبی راوړم کاکاته مي وویل هغه هم ومنله شلومبی مي راوړ نور نو د خورک هغه مزیداره مرحله وه چې ښه یخ شلومبی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرمه هوا کې له توتو سره مل وي بس څه ووایم چې باندار دي ختم سي.

## د اکثریت افغان ځوانانو د واده داستان!

وروسته مي پوښتنه ترې وکړه: کاکا واده دي کړی دی؟

هو خو خو .

خبره يې ورک کړه، خیر دی کاکا ولي زړه نا زړه سوي؟

زموږ به خو څه ښځي وي، ښځي او که مزدوراني، ښځي او که مظلوماني....

ولي کاکا ستونزه څه ده؟

زموږ ټولنه چې ترټولو ځان ورته ډیر بسلمان بسلمان(مسلمان) ښکاریږي همدوی تر ټولو ډیر غیري انساني کارونه کوي، ځیني يې یوازي لوښې د عاید سرچینه ګڼې او په ښه ډیرو پیسو يې خرڅه کړي، دانه ګوري چې دیمازوم ځوان دی، کاروباري دی، نشه يې دی، د مور او پلار ازاري دی، څه بلا دی بس چې پیسه شریفه دي ور مخته کړه نور يې غړي ورته مړه سي، بس په هغه ورځ د خپلې لور جنازه وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار یې وروسته په هغو پیسو ځمکه رانیسي، یازوی ته پري واده وکړي بس خبر نه یې چې د لور ژوند و دوزخ ته په کړه ور ووړ یانه دوی ته فرق نه ورکوي.

خاوندان یې هم که انسانان وو خو ښه خبره ده کنې دي اوس زماني وال خو بس فکر کوي چې ښځه یوازي د نفسي خواهشاتو لپاره ده بس خلاس، دوی فکر کوه چې ښځه یې نه سیال لري، نه زړه لري او نه هم ارمان، بس د ښځې او حیوان فرق نه وي، هره ورځ وهل، ټکول عادي وي، د پلار له کوره بنده وي، دمیرمني یې هیڅ سیال نه وي، د هغې مور یا د کورنۍ غړي که راسي خاوند یې بیګانه ګڼې حتا د سیال په سترګه هم نه ورته ګوري، نه یې هم ښه معماني کوي، بس همداسي شین زوند وي، پلار خو یې پیسې واخیستې نور یې د لور په مخه ښه.

ماهم واده وکړ اولو وختو کي د خُسر ګنۍ کره نه تلم هغوی به ویل چې مور یې تعویزان په کړي، وخت تیریده مور مي راته وویل چې یوځل ورسه چې ورغلم او راغلم بیا په کور کي پر ما ښه ورځ نه وه، بس ټوله ورځ به دغه کیسې وي سي زماپه زوی خُسر ګنۍ تعویزان کړي، بس پر یوه حالت هم ژوند نه برابریده، زما خور مو ورکړي وه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه کلي کي چې زما خور به خپل خاوند راوسته ويل به يې اه ګوره ځومره خوانبې او ښځه پر ګرانه ده په خپله يې سپره ګرزوي، خو چې زوی به يې دا کار وکړ اسمان به ځمکي ته راغلی ځکه دوی ويل چې دا خوانبې تعويزان پري کړي.

ژوند ډير تريخ سو په دي ډول سره هره ورځ به مي له ځان سره فکر کاوه چې دا اوس په څه غم اوښتی يم، خو لنډه به يې درته کوم درې کاله مي د واده تيريدل چې ميرمنه مي مړه سوه ماهيځ اولاد ترې نه لاره او هغه ورځ مي وعده وکړه چې نور بيا واده نه کوم، يابايد مور پريږدم يا واده خو مور شيرينه وي، د بخښې محراب وي، د جنت دروازه وي دا امکان نه لري.

کاکا نسوار وکړ، ما د توتو لوښې ټول کړ، او بيرته راغلم.

ما ول هو کاکا همداسي ده ځکه لومړی شهيده ښځه وه او لومړی ښځه وه چې اسلام يې قبول کړ، همدا ښځه ده چې د انساني نسل د پايښت لپاره مبارزه کوي. ښځه مور ده، لور ده او ميرمن ده، همدا ښځه ده چې ورڅخه بغير د يو نارينه ژوند او ايمان نيمګړی دی، موږ د ښځو هر ډول حقوقو ته هغه چې د اسلام مبارک دين ورکړي وي بايد ژمن او وفاداره و اوسو، هر پلار ددې ترڅنګ چې ښځو ته حجاب سپارښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، خپلو اولادونو ته دي د خپل نظر کښته ساتلو سپارښتنه هم وکړي ترڅو یو اسلامي ټولنه مو رامنځ ته کړي وي.
که د خپلو ښځو دعزت لپاره زمری وي، نو د پردیو ښځو د عزت اخیستلو لپاره له ځانه سپی نه جوړوي، که هر پلار خپله لور دباندي د شرمښ خصلته انسانانو له ویري نه پریږدي، نو یوازي به یې خپله لور ساتلې وي؛ خوکه یې پلرونه خپل زامن په عالی تربیه و روزي او د بل ناموس له ازار او اذیته یې را وګرزوي نو ټولې نجونې به یې په امان کي کړي وي.

کاکا هم سر و ښوراوه نسوار سم دم ور اخیستی وو، خبري له وسه نه کیدي، ماهم یو ګړې ارام ته پریښودی، ترڅو د نسوار نشه یې سر سي.

تر خولې مي ناڅاپه همدا جمله راووتله او کاکا مي مخاطب کړ: خپلو پښو ته د تلو په وخت کې پام وکړه تل یوه مخکې او بله ورپسې وي، خو نه وړاندنۍ پښه مغروره کیږي او نه هم شاتنۍ پښه شرمیږي، ځکه په دې پوهیږي چې په یوه حال نه پاتې کیږي؛ د ژوند ورځې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغسې دي يوه ورځ ماته بله ورځ بريا وي. نو بريا ته مغروري او ماتې ته ناهيلي مه کوه.

کاکاوويل: ته هم بد نه يې په ځينو شيانو دي سر خلاسيږي، مازي دي ماته ځان اچولی.

ماول نه کاکا، تاسو د تجربو خاوندان ياست موږ ستاسو له تجربو څخه ډير څه زده کولای سو هغه چې موږ په کتابو کي هم نه وي ليدلي.

کاکا را پورته سو د نسوار نشه يې ختمه سوه، نسوار يې تو کړ او د چايو ګيلاس يې خولې ته ونيوی، لاسونه يې لږ لږ ريږديدل شايد نور يې د ځوانې مرحله تيره سوي وي د چايو غړپ يې وکړل او سر يې بالښت و لګوی.

## وطنپالنه څه ته وايې؟

پوښتنه مي وکړه: کاکا وطنپالنه څه ته وايې؟

ويې خندل ښه پوښتنه ده.

وطنپرستي انتخاب نه ده، دا ستا خوښه نه ده چې وطنپالنه کوې او کنه بلکې دا ستا وجيبه او مسؤوليت دی، او که يې نه کوې نو بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جزاء و وینې، ته به خامخا د وطن له دښمن سره دښمني او د وطن له ګټو سره مینه کوې. د وطن اوبه، هوا، خاوره، او تر هر څه مهم، دغه شخصیت او هویت یې چې تا ته درکړی، ټول پر تا پور دی.

وطنپالنه د ډوډۍ خوړلو په څیر نه ده چې د ضرورت پر وخت یې و خورئ او نسونه په ډک کړئ، چې کله مو معده و پړسیږي بیایې اخراج کړئ؛ وطنپالنه یو طبعي احساس دی، انساني همدردي ده، د خاورې او تابیعت حق دی، پر وطن قرباني ده، د خاوري ازادي ده، چې له خپلي خاوري او وطن سره د تل لپاره پالل کیږي، ساتل کیږي، روزل کیږي او هیڅکله هم وطنپاله همدا مینه نه اخراجوي.

خو زموږ هغه تر هغو په وطن کي اوسي چې ګټې یې خوندي وي، ژوند یې په بلډینګو کي وي، کوم وخت چې یې زړه ناقراره سو په هغه ګړي وطن ترک کوي او ځي چیرته بل ځای کي کډه اچوي، دا نه وطنپالنه ده، نه د خاوري حق دی او نه د اوبو حق دی.

دلته ټول د پیسو پر سر جنګونه کوي، که هر یوه ډیري پیسې ورکړي د هغه طرف نیسي، د خپل قوم په هر ډول مفسید انسان پسي دریږي ځکه ددوی د قوم، قبیلې او یا سیمي دی، دانه ګوري چې څوک د خلکو او خاوري په ګټه دی او څوک نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعصب ټول د خپلو قومونو پر دلالانو راټول کړي، حق يې هير کړی دی، د ړانده انسان درملنه کېدای شي، مګر د ناپوه او متعصب درملنه ناشونې ده، تعصب بينا انسان ړندوي او له عقل يې خلاصوي، تعصب يوه تېروتنه ده، اوس دا توپير نه کوي، چې دا تعصب د دين، مذهب، نژاد، قوم، رنګ او حتٰی شخص په اړه وي. متعصب انسان همېشه د خپلو ټولنيزو نيمګړتياوو پټولو لپاره په تور، تهمت افتراء، درواغو، جعل او دسيسو لاس پورې کوي.

له دې غافل دی چې د مېړني انسان د پېژندلو تر ټولو ښه لار، په خپلو تېروتنو اعتراف دئ. له تعصب ډډه بايد وکړو، تعصب پر ځای او بې ځايه نلري. تعصب، تعصب دئ.

دوی هميشه د خپلو ګټو پر سر جنګونه کوي، د هر چا ونډه چې ښه غوښنه وه د هغه پر ونډه يې اچوي، دوی هميشه د خپل جهالت له امله د نورو د موخو ښکار شوي، زموږ جنګ پردی‌نه دی، همدا زموږ خپل جهالت دی چې موږ سره جنګوي، همدا زموږ مظلوميت دی چې موږ سره جنګوي.

جنګ له ټولنې د سکرو کان جوړوي، چې هرڅوک ورننوزي پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توریږي، جنګ فساد پیداکوي، چې جنګ ورک سي، فساد هم ورکیږي، مفسد به هم ورک سي.

د کاکا خبري یې یو په بل پسې لکه د تسبیح پېیل خوندوري وې شپه هم دولسو بجو ته پر رسیدو مجلس ګرم وو هڅه مې کوله چې خاموشي را پیدا نه سي ځکه موقع په لاس راغلې وه، عجب بحث وو او جالب کیف یې وو.

کاکا یوځل بیا دباندي ووتی، خپل عادت یې ترسره کړ، راغلی یو او بل خوا یې کتل له بدنه یې قوت وتلی وو، راغلی ځان یې واچوی پښې یې و غزولې پوښتنه یې راشخه وکړه.
ماهم ورته وخندل ماول کاکا شاید نوبت ستاسو وي.
ښه مو سره وخندل.

## فساد ولي رامنځ ته کیږي؟

کاکا پوښتنه وکړه: تاسو خو پاکولتې والا یاست.

ما لنډ جواب ورکړ چې فساد دلاندي څو عمده عواملو په خاطر رامنځ ته کیږي او ټولنه ورڅخه نه جبرانېدونکی زیانونه ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي تقاضا لوړه شي او عرضه کمه شي فساد رامنځ ته کيږي.
بېوزلي چي کله شديده شي فساد رامنځ ته کيږي. دزيات ثروت د ترلاسه کولو په خاطر فساد ته لاس اچول کيږي.
همدا لاملونه دي چي نن ورځ زموږ په ټولنه کي فساد ډيري ريښې کړې او لا په شدت سره روان ده، که يې په وړاندي و نه دريږو موږ به ډير وځپي او ممکن له ژوند سره مخه ښه وکړو.
زموږ تجاران توکي ګرانوي، غريبان يې د رانيولو توان نه لري، يوه ورځ ډالر يوه روپۍ لوړ سي پنځه مياشتي ور سره د توکو نرخو لوړ کړي خو ډالر دويمه ورځ بيرته پر شا سي، بې کيفيته درمل، د سون توکي، د ژوند اوليه مواد په لږ قيمت را واردوي همدلته څوک ترې مري او څوک دومره نه لري چې پرې نس ډک کړي.
افرين، کاش زموږ په ټولنه کي ټول همدا ډول فکر درلود نن به ولي فساد زيات وو.
ماول کاکا خدای دي وکړي چې ستاسو پوښتنه لږ ځواب سوي وي.
ويې خندل يا دغسي خو ماشاالله ښه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټولنیز نزاکتونه!

سترګې یې و موښلي او د کوټې چت ته یې وکتل وروسته یې وویل:
زموږ خلک هم بغیر له اجازې همیشه د نورو په چارو کي مداخله کوي، هیڅ ټولنیز ژوند او نزاکتونه نه پیژني، همیشه پر سوځلو زخمونو ملګې دوړوي،

د یو کس په زوړ مبایل، شکیدلو جامو، زړو بوټو، خرابو وسایلو او ټولو هغه څیزونه چې یوکس یې د خپل غُربت له امله نه شې کولای چې نوي یې کړي ریشخند، ټوکې او خندا وي کوي، په وار وار یې پوښتنه کوي چې ولي ولي؟ دا اصلآ په هیچا پوري له لویه سره اړه نه لري، خو بیا هم دوی نور فسخندوي او شرموي یې.

ما ور غبرګه کړه ماول هو کاکا خوکه یې حسنِ نیت ډیر وي او زړه یې پرې خپه کیږي، بغیر له پوښتنو ورته هغه څیزونه نوي کړئ او د تحفې په شکل یې ورته و سپارئ او ووایي چې همدا مي خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستالپاره رانیوئ او باید استعمال یې کړئ هله نو بیا هم دوی نران دي او هم بانزاکته.

ما پوښتنه ترې وکړه:

کاکا د امریکایانو د راتګ ګټه څه وه؟

ګټه دي سر وخوري، خو ټول یې په پیسو روږدي کړو، کور په چور یې سره اخته کړو، په افغانستان کي د امریکا شتون چي کومي ستونزي راولاړي کړې، ټول ترې خبر یو، خو هیڅوک حال نه وایې، افغانستان یې اشغال کړ، ملي حاکمیت او خپلواکي یې تر پښو لاندي کړه، د ټولني غله، مفسدین او داړه ماران یې پر موږ مسلط کړه. د یو یو فرد لپاره یې ټول کلي په مکمل ډول بمبار او ویجاړ کړه، مسجدونه یې راته په یو او بل نوم وران کړه، ودونه یې بمبار کړه، د قومونو تر منځ یې دُښمنی راته پیداکړي، له ګاونډیو هیوادونو سره یې داسي دُښمني راجوړه کړه چي حلول یې ناممکن دي، د افغانانو وژل په یو او بل نوم، چاپې، بې عزتۍ او تروررونه ښه په عامه د دوی له لوري. او افغانان ددې جګړې د سون د توکو په څیر کارول کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاکا خبري له ډېر شدت او احساساتو ډکي وي، واقیعت هم همداسي وو، موږ د پردۍ جګړې ښکار سو، ټول وطن بمبارسو، دوی د طالب او طالب بیا د عسکر په نوم ښه بازار ګرم ساتلی وو همدایې زموږ هیواد ته تحفه وه، له وتلو سره سم یې خپل نازولي لاسپوڅي هم ولیږدول او خپلي توکي څه چې د انتقال وړ وي انتقال یې کړي او څه چې د انتقال وړ نه وي همدلته یې لکه د جنګ په میدان کي سوځول سوي توکي په دي حالت واړول.

خو موږ هم باید د ژوند هرې ناخوالي ته ځواب ووایو، ستونزو ته وسله باید پر ځمکه کي نه ږدو، د هوډ په قومانده او د روح په ځواک دخیالونو ښارته ننوزو، دستونزو کاروان لوټ کړو، اندېښنې ووژنو، داحساس ځوانانو ته ډاډ ورکړو، د ګل حالات له بلبل نه زده کړو، همدا حقیقي ژوند دی.

کاکا ته مي وویل چې شپه پخه سوه، که خوب درځې ویده سه، زه بغیر له تاهم په شبګیرو عادت یم، د خپل ملت حالت مي ژړوي او کړوي مي.

کاکا وویل: یایا پر مایې هم فرق نسته، همیشه یوازي یم نن غواړم ښه زړه خالي کړم، دبلی یې په دوو ګوتو و ټکاوی او سر یې ور خلاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، خولې ته یې نسوار د دبلې په سر کي ور تس کړ، هغه هم خاص لکه د ښکاري نخښنه پرځای ولګیده، ددبلې سر یې ور بند کړ شنه غمیان یې ددبلي پر سر موښتي وو ځنګ یې وواهه.

## د افغان ځوان تعلیم، تحصیل او ژوند!

کاکا پوښتنه وکړه ماته یې وویل ستا د ژوند او تعلیم په اړه راته ووایه څنګه تر دې ځایه را رسیدلی یې؟

ماول کاکا څه یې کوي، موږ هم د نورو افغانانو په څیر ښه ورځ لکه په کال کي دوه اخترونه ډیر لږ لږ لیدلې خوبیاهم د لوی رب ج شکر ادا کوم چې دومره عمر یې راکړی.

کلونه وړاندې د خړ کلي د ملا له کور سره مو د جومات په حجره کې د ژوند لومړنی زده کړې پیل کړې، کله به ملا صاحب نه و او کله به د ملا صیب طالب جان نه و خو هغه لږ و ډیر کې یې د یوه داسي دین په ژبه پوه کړم، چې ما د عصري علومو په له ډیرو کتابو نه دي اخذ کړي. د ملا صیب یې جنت ځای خو د کلي خړ دیوالونه، د پټي کارونه او د ژوند نا ځوانه اقتصاد ودې سرحد ته ورسولم، چې زیات وخت به مو د کور کلي او کلیوالو د پټي پر سر جګړو او ددې بدبخته ملت په ډیرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انقلابو به هم د ملا او هم د کلي ژوند و. درس کله پوره کله نیمګړی و؛ کله د کفارو بمبارونه او کله د مسلمانو څورونه بس! ملا اکا خو و رټلی موږ يې نور لا په معشومتوب کې له ژونده ستړي کړو، اوږد به نه ځم، خو لنډو کې به يې ووايم، دوه کاله وروسته زموږ د کلي سره نژدې بازار کې ښوونځی پیل شولې، موږ د درس په ځای د کتابچو، شنو بستيو او تورو تختو باندې د سپين تباشير ليکلو په شوق ورغلو، ورو ورو، مو ښوونځی پیل کړل، شوق او ذوق مو په رښتيا را څخه بدل شو، زده کړې شوې، ښوونکی شوه، ملا صيب هم هلته و، بس دې ټولو يو ځای کېدلو سره ما هم د زده کړو تابيا ونيول او سم دم مکتبي شوم. د کلي طالب به د حجرې مخته د مکتبي په نامه راته وايه، يو نيم د کلي سپينږيرو به په کافر تعبيروله خو ما به د ټولو دلايلو پر ځآی يوازې د ملا صيب شتون ورته راوړه، هغه و چې له ستړيو، سختيو، مسکينيو وروسته د کلونو مودې را په تيره د ښوونځی دولس ټولګی مو خلاصې کړلې، ښوونځی څخه چې فارغ شوم، زه خو د ماشومتوبه د کلي پر سر ساړه باد وهلی وم؛ يتيم وم، پلار مې د نورو په جګړه کې د بازار په مينځ کې شهيد شوی و، ما يې ماښام د څه شي راوړلو په نيت د مسجد مخه نيولې وه، خو ناڅوانه زمانې يې هماغه د مسجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ته د څو موټرو سره يو ځاى جنازه راوړه، مور مې يوازې زه هڅولم او کشر ورور مې نه پوهيده، اوس هم ځکه نه پوهيږي، چې ماما مې خورا حوصله او مينه راکړې، ولې کله کله يې تشه محسوس کړم، دا د ژوند حقيقت دى، چې پلار مې نن زه د کوڅو هلک د ښار په لوستي سړي سره پيژندلى واى.

اوس د ښار لوستى ځوان يم، کليوال يم خو د ښار له ښاري ځوانانو سره د ژوند په ټولو پړاونو کې د علمي ډګر سيال يم. زه د ژوند هرې سترې ته په غيږه ورغلم او زما به هڅه دا وه، چې دا د ښار زلمي يو وخت ستر وه خو اوس يې مور هم د معنويت سترتوب کتار کې ځان حسابو. زه ښه په دې يم، چې د ښار او کلي دواړه حالته درک کولاى شم، زه د کليوال ماشوم د موټر ږغ ته د خوشالۍ احساس هم درک کولاى شم خو د ښار د ماشوم طيارې ږغ ته خوشالي هم درک کولاى شم. نن د ښار په لوړو منارو کې د ښار د زلمو سره د معنويت يوه غټ برج ته په ختلو لګيا يم، که وخت راغلى، له هر کليوال ماشوم سره به د ښار هره کوڅه د هرې حجرې له طالب جان سره پل پل کړم او دده د موټر ږغي ارمان به په طياره ور بدل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هو کليوال ساده ولې ژمن، عادي ولې مېړنی، نالوستی ولې مودبه، خيرن ولې په زړه پاک او سر لوړی ځوان دی.
نن ملا صاحب هم په نصيحت کي ويل چې د کوم کسان چې جنت ته داخليږي دوی به تړول ديرش کلن وي، عمرونه او قدونه به د ټولو دا يو شان وي کتابي خبره ده، خو ما له ځان سره وويل چې موږ خو په دنيا کي نه د شل کلنۍ او نه دديرش کلنۍ هغه جذبه او ذوق وليدی چې کوم يې الله ج موږ ته جنت ته په داخليدو سره راکوي، خير که مو دلته نصيب نه وو سوی په هغه دنيا به مو ارمان پري و خيزي.

کاکا سر وښوروی، ربښتاهم ستا ژوند له صندانونو سره لوبه ده؛ خو کلک هوډ، ژمنتيا او د اقرباوو مينه انسان تر هر امتحان روغ باسي. لنګوټه يې پر ځمکه پرته وه، سريې په دواړو لاسو ښه ټينګ ټينګ وګروی تابه فکر کاوی چې د عمرونو خيرن دی، خو کاکا ملامت نه وو ډېر غمونه پرې تير سوي وو، لنګوټې ته يې لاس کړ سمه او خرابه يې وترله ږغ يې وکړ لمنځونه به وکړو هسي نه چې ملا راباندي ږغ وکړي.
ما هم ورسره پټو وغوړوی او پر لمانځه و دريدو، خو په ذهن کي مي د ملا لفظ لا پاتي وو، خير لمنځونه مو وکړو، کاکا وويل د غمګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوماسي (مچر)دي سي سم دم له انسانانو سره جنګیږي.
ملامت هم نه وو ځکه د کندهار غوماسي داسي په نام وي لکه د ارغنداب انار.
ماول کاکا په صحرا کي مو له مُلایانو سره څه حال دی؟
څه وړ حال به مو وي؟ خوبس دوی هم لکه بې پیلوټه طیاره مصرف د بل له کوره وي، ددوی یې څه چې پر وطن او خلکو څه وړ حالت راځي، ملایان هم په خپلو کي سره جوړ نه دي، یو پر بل یې د سلفي، وهابي او پنجپیري نومونه اېښې، په نصیحتونو کي د خدای ج کلام پاته وي دوی یو پر بل ټاپې سره وهي، ملت د پاڼ ومخته ولاړ دی، پر کومه ولاړ سي؟ د چا داومني؟ ټول ملت یې په شک او تردد کي اچولی یو وای ها کوئ دا مه کوئ ابل بیاوایې هغه ونه کړئ که مو وکړل ولاړاست په دوزخ کي لګیږئ، بس همیشه د خپلي ملایې غم ور سره وي، له ماشومتوبه تر بوډاتوبه زه ددوی دا یوه خبره اورم چې ښه کوئ بد مه کوئ وه د خدای بنده یوبل څه خو هم ووایه، بس که یې ویل هم هغه د دوزخ صفتونه درته کوي، جنت بیخي لکه زموږ لپاره چي جوړسوی نه وي، بس ځیني منځلاري ځیني افراطیان او ځیني تفریطان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماول هو کاکا د محراب ارزښت په اسلام کي ډېر لوړ او مقدس دی، همدا محراب د ملت د لارښود او اصلاح مسؤليت لري، افغانه ټولنه يو سنتي ټولنه ده، همدا ملايان کولای سي د وطن په ابادۍ او رغوونه کي رغنده رول ولوبوي خو که يې دوی وغواړي.

کاکا سر و ښوری بس نو منې يې په چا؟

زه ولاړ سوم د خُم يخې اوبه مي ورته راوړي اول په ځای کي لږ راجګ سو وروسته يې ګېلاس پر سر پورته کړ او خالي يې کړ، پر بېره يې لاس راتير کړ او څنګ يې ولګوی.

## ډيورنډ لاين!

ما بحث ګرم کړ او پوښتنه مي وکړه کاکا د ډيورنډ لاين په اړه په صحرا کي خلک څه فکر کوي؟

هغه ټول زاړه ګګن پښتانه دي، د اوسنی زمانې د روشنفکرانو په څير نه دي چې خپله خاوره دي و بل ته ور پريږدي، هغوی دا کرغيړنه کرښه په هيڅ صورت نه مني، دا خو د ځمکې مسله ده او پښتون ته خپله خاوره او ناموس يو ارزښت لري، که يې نن خاوره يوړه سبا مو ناموس ته لاس را اچوي، د صحرايې سيمو خلکو ته حکومت هم په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګه نه ګوري خو دا مسله د ملت ده د حکومتونو نه ده که سل او زر ځله واکمنان ور امضا کړي خو زموږ کړوسیان يې لا هم نه مني، دا زموږ پر زړه تيره سوي کرښه ده چې هيڅ وخت به يې ونه منو دا که يې حکومتونو د خپلو سیاستونه قرباني کوي او یانه خو ملت يې هیڅکله نه مني، موږ پر همدې خاوره سل او زر ککرۍ قرباني کړي ځنګه امکان لري چې موږ دي ومنو.

ډیورنډ لاین د افغانانو عزت دی، حیثیت دی، ناموس او د مور وطن یوه ټوټه ده؛ ډیورنډ لاین یوازي یو ساده ازغن سیم نه دی، همدا د لوی افغانستان پر سینه هغه کښل سوي زخم دی چې باید په یوځای کیدو سره يې تداوي وشي؛ نه په پرېښودو سره. دا زخم یو حقوقي بحث دی، د احساستو بحث هیڅکله نه شي کیدای او نه هم هیڅ ډول لاسته راوړنه يې په مقابل کي دا زخم جبران کولای شي، د همدې ډیورنډ موږ په سلو او زرو ککریو ساتنه کړې او کوو به يې هم.

ماور غبرګه چې ته وا ځومره خوند به وکړي، که یوه ورځ د ملي غزا په نوم ونومول شي او په ټولو ګډ حشر وکړو ترځو د ډیورنډ لاین له منځه یوسو او ټول ازغن سیمان يې د پېښور او کوهاټ پر هغه اخیري سرحدونو ور ولګوو چې ستاسو اصلي ځای نور همدا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالام، لنډی کوتل، پېښور، کوهاټ، بنو، مهرانشاه، لکي مروت، وانه، ژوب، ګوادر، باجوړ، چمن، کوټه او داسي نور دي بیا زموږ مبارک سي.

په هغه ورځ به دا ملت د ارامۍ ساه واخلي، سیاستونه به ملي سي، مداخلې به کنټرول سي او د ملت د زړه زخم به جوړسي.

کاکا سر وښوروی او ویې ویل کاش همدا ارمان مي پوره سي، چي دي تور پنجاب لمن پر سر ور واړوو او لوی افغانستان رامنځ ته کړو. هڅه مي کوله چې د کاکا له خولې زیاتي خبري واورم نو مي ځکه هر ګړی موضوع بدلوله او هیله مي لرله چي په همدې شپه کي پر ډیرو موضوعاتو خبري وکړو.

داخل کاکا له خپلو پیل په وکړ او ویې ویل:

دا هغه وفاداره ملت دی، چې له سلو کلو وروسته هم د ډیورنډ جونز لار تعقیبوي او اکثریت چارې یې دوی ترسره کوي.

پوه سوم چې کاکا یا لیک لوست لري او یا هم یوبل لوستي ورته همدا داستان بیان کړ پوښتنه مي ترې وکړه هغه څنګه کاکا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ړنګ ملت!

دا هغه ړنګ او په جنګ ملت دی، چې همیشه ورځخه خپل مسیر ورک وي، نه په دومره کتابو پوه سوو، نه په همدومره مقالو پوه سو، نه ورته د خلکو تجربو څه ور زده کړل، نه د نظامو چپه کیدو څه ور زده کړل، بس همیشه دوی، سر ناخلاسي وي، تعصب وي، خپلمنځي ګتې وي، فساد وي، بداخلاقي وي، تربوري هم پالل ځني غواړي دوی او سیالي وي، له غازي امان الله څخه تر همدا اوسه دوی د پردیو د لومو ښکار دي، د هغو پر ژرنده اوبه ورسموي، د زورور اوبه پر پیچومې خیزي او د غریب په خوله تریخ پیاز څوک نه خوري، دلته که پیسه داره وو هغه عقلمند هم دی، غیرتمند هم دی، نور یې دانه ګوري چې دي پیسې له کومه کړي؟ همیشه د نړۍ استخباراتو تش پر نامه مینو افغانانو څخه استفاده کړي، په پردي افکارو پایې، خپل نسل او غریب ملت تباه کړی.

هرڅه په دوی خپل جهالت کړي، دا هغه ړنګ ملت دی چې د عزرایل چاري تر هغه دوی ډیري پر مخ وړي، له خپل مسلک، وطن او خدمت سره فساد یې اوج ته رسیدلی، هیڅ یو یې هم له خپل ژوند څخه راضي نه دي، پر ټولو ژوند له خپل جهالت څخه سور اور ګرزیدلی، د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمري ښکار وکړي پردی ګیدړ پرځان واکمن کړي، لس مخه او لس ژبې لري داخلک همدا د جنګ او جهالت ګټه ده، د ړنګ ملت اصلي مظلومیت ددوی خپل جهالت دی، یو پردی کافر راځي او زموږ له جهالت څخه ورته د محراب ځای ورکول کیږي اقتدا ورپسي کیږي، د مکتب زنګ کافر دی، شنه بسته ورته نابسلمانه ښکاري، په ټکنالوجي کي ورته پرمختګ د کوفارو دسیسه ښکاري، دافغانانو هرڅه له رواجه وتلي، هرڅه غواړي په خپله تجربه کړي، نور بس دی جهالت مو تجربه کړی، بالا راسئ د روښنایي لورته، نور راسئ د خپلواکي لور ته.

بس بس څه به یې کوي چې دا دیما زړه بلکل پري پري دی، زموږ کوم کار پر چوکاټ سم دی، ټول د نورو تقلیدونه کوو، خپل اسلامي ارزښتونه پر ورکیدو دي، د ښځو د پوړني او حجاب امر الله ج کړی، خو خلک یې د حکومت امر ګڼې ای دا نو چیشي ده چې خلک د الله ج امر د حکومت امر ګڼې او دوی دا د پرمختګ یو زینه ګڼې دانو اوس په خپل دین خبرتیا ده او که د نورو د لومو ښکار ګرزیدل دي.

بس ورک یې کړه دا ملت...

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکا احساساتي خبري وکړي، يو ګړی مي ارام ته پريښوده ځکه سپينږيری وو، په سر او ږيره کي يې تور وريښتان ډير لږ ليدل کيده، پر عصابو يې بوج ژر راتلی، همدا د جنګو علت دی چې ټول افغانان په ځواني کي سپينږيري شوي، کيمياوي موادو يې ټول ذهن ور خراب کړی وي.

کاکا پښې و غزولې، د خپل زوړ ساعت و ستنو ته يې په لږ روڼې سترګو کتل مافکر وکړ چې خوب ورغلی خو داسې نه وه بلکل زما له فکره خلاف.

کاکا وويل نن تر سهاره کښينم خوب بغير له ناستې هم نه راځي، مانو هم تر همدې ښه موقع بله نه لرله ورسره ومي منله ځکه زه خپله د شپې له خوا په لږ خوب عادت وم د پوهنتون له وخته ځکه د شپې تر ناوخته به مي درسونه ويل.

## واده او که د غمونو بار!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پوښتنه ترې وکړه: کاکا واده مو څو کاله مخکې وکړ؟

د واده پوښتنه مه کوه، زموږ سره نو پلرونو کومه ناروا نه ده کړې.
تعجب یوړم څنګه ناروا؟
خو یوځل پر خپل اولاد داسي نوم کیږدي چې په مشرتوب کي هغه پرې شرمیږي، زمانوم یې هغه وخت غمی راباندي ایښی ته او خدای دا نو اوس په کوم کتاب کي روا دی؟ دویم یې اولادونه دومره ډیر کړي وي چې په نفقه، جامه، تعلیم، تربیه، نزاکت او نظافت پوري یې نسي رسیدلای هغه نو د کوڅې او سر چوک خلک ترې جوړسې، نور که یې په ټولنه کي ښه عملونه کول او که بد په ده پوري اړه نه لري، که یې غلاوي کولي او که یې پردۍ بدۍ راولي غم د ټول کلي وي، که یې پردیو تور سرو ته کتل او که یې لارې شکولي ددوی نوڅه ددوی د پلار له کور څه ځي. وروسته یې زامن پر پردیو وطنونو ورک وي دوی پر خپله خوښه ورته کوژده وکړي، زوی یې په نورو هیوادو کي مزدوري کوي پلار یې واده هم پسي وکړي کوم وخت چې یې زوی کورته راځي میرمنه یې سپینسري سوي وي او د ځوانۍ شپې یې تللي وي.
بس زما ژوند هم ددوی په خیر دی، د ژوند له هیڅ رنګه څو خونده خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سوم؛ خو خبر سوم چې په واده سوم، نور خبر نه وم چې له چاسره، په کومه خوښه؟

کله خو لاداسي هم وي چې پلرونو د پیسو په مستۍ کي دوه درې ودونه وکړي، اولادونه سر ګډ وډ کړي، کورنۍ کي مشکیلات جوړ کړي، نور نو نه بیا د کور د جنجالو وي نه یې د خلاسیدو، همدا د څو مندو زامن لکه د کوچې رمه په خپلو کي سره وخوري.

زما د پلار هم ماشاالله ښه کار سم وو، څوارلس اولاده یې وو ۹ زامن او ۵ لورانې، زه یې څلورم زوی وم، کور کي اقتصادي وضعه سمه نه وه لازمه مي وګڼله چې د پیسو منبع پیداکړم خو ایران ته مسافر سوم. تقریباً ۲۵ کلن وم چې ایران ته ولاړم زموږ مشر ورور ته یې په موخۍ (بدل) واده ور وکړ زما خور یې پکښې ورکړه، زماله تګ یوکال وروسته مي بل درېیم ورور هم راپسي راغلی یوکال مونور هلته سخت کار وکړ د دوو نورو مشرانو ورڼو ودونه مو ور وکړل هغه ترما مشر ورور هم یو کال وروسته کورته راغلی خپل له میرمنې سره یې ژوند پیل کړ، ماهم خپله مزدوري کوله ټول مي هلته درې کاله پر پوره کیدو وو چې ترما کشري ورور مي د کلیوال پر ټلیفون زنګ راته ووهی او د کوزدي مبارکي یې راکړه، حق پک سوم، نه پوهیږم څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوسول خو ژبه مي بنده بنده کیده چا چا ماته یې وکړه؟
هو هو لا تاته یې وکړه د شیرخان اکا لور ده .
خیر کشری ورور مي وو ډیر په حوس یې زنګ راوهلی وو ده فکر کاوی چې غمی به له غمونو خلاس سي خوظالم خبر نه وو چې اوس یې تر ما لاندي ځمکه سره کړه او زما یې پر شپه کړه.
له کور څخه مي مور او خویندو زنګونه راته وهل خو دوی زما له حالت څخه ناخبره وو مایې هم ټلیفون اوکي کړ مور ده نو زړه مي نه سوای ورخپه کولای د زړه په زور مي روغبړ ور سره وکړ دوی مبارکیاني پر را و اورولي مایې هم په یوه خبره مبارکي واخیسته او مننه مي ترې وکړه، نور مي توان نه وو ټلیفون مي کاټ کړ او زړه ته مي ذنګنونه ورکړل.
د شیر خان اکا لور او زما کوژده! خو دا ځای زما خوښ نه وو، زه لاهم د کوژدې لپاره اماده نه یم، زه مسافر یم، د نجلۍ به زه خوښ یم او که نه؛ خو زما دا دوستي هیڅ نه وه خوښه، دوی هیڅ زما رضایت ته نه وکتل ع، زما غریبې ته یې ونه کتل چې زه په څنګه حالت کي پیسې ګټم او دوی یې څنګه هره ورځ په کوژدو او ودونو مصرفوي، الله ج او اسلامي شرعت موږ ته حق راکړی چې د خپل ژوند ملګري باید په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله وټاکو خو دلته خبره د پښتنولي وه، ته خونو پوهيږي چې پښتنولي ته يې تر ډيرو لوړ ځاى وركړى.

خير زما له ناخوښې او چورتونو به نو دوى څه خبر وو، خپلې خوشحالۍ يې سره و لمانځلې يو خوا زما غمومه بل خوا ددي خلكو ناوړه رواجونه، لوړ ولور، د ناوې پوښ، د ناوي د اختر جوړه، د ناوي د مور كالي، بل خوا د زوم جوړه، وچه ميوه، يو دانه لوى چرګ دا رواجونه كه يې د ماښام دا كور درلوده كه يې نه خو بايد دا مراسيم يې ترسره كړي واى، يوځل د زوم كورنۍ پكښې تباه كړي، بل ځل د خُسر كورنۍ، اولادونه يې په څه شكل سختۍ پيسې ګټې، خواري كيږي، د بل مزدوري كوي خو بس د پښتنو ورک رواجونه يې همدومره نور له كوره ورک كړي.

پنځم كال پر را نوي كيدو وو چې پلار مي زنګ راته ووهى او راته ويې ويل غميه نور راځه راتلونكي هفتې ته مو د واده ورځ ټاكلې. دا نو بس د پلار زنګ نه وو سم دم د راكيټ وار موږ خو هم پښتانه وو اوس خوبه مي د پلار د بګړۍ عزت ساتى نو له پلار سره مي ومنله چې سمده ان شاالله.

په دوو ورځو كي مي خپل كارونه سره ايسته او دوري كړل د شورتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



والا وو که څه بلاوي په هغو مي ځان وليدی ترڅو يوه ورځ مي بندي کړي او بيا مي وطن ته واړوي، واده ته هم درې ورځې پاته وي، زه يې و بندي خانې ته راوستم ګڼ شمير نور افغانان هم وو ټولو په هغه فکر راغلې وو چې ما درلود، شپه تيره سوه سباته خو نو زما زړه ډاډه وو چې نن خو مو ليږي دا ورځ هم ووتل يوه شپه او دوې ورځې پاته وي اوس مي نو قصد کړی وو بايد چې را رسيدلی وای ټليفونان خو ټول له همدي پوليسو سره وو، لنډه به يې درته کوم درې مياشتې يې همدلته بندي کړم نه له کوره زه او نه کور له ماخبر وو، انديښنو او چورتو پر سر راخيستی وم، واده به څنګه سوی وي؟ کړی به يې وي او که به راته په طمه وي؟ مور او خويندي به مي پر کوم حال وي؟ وروسته تر دريو مياشتو بنديې تر سرحد را واړولم چې ما هم لس قدمه پر ځمکه ايښودل يو موټر مي مخ ته ودريدی ټيوټا ماډل موټر وو درې تنه ډبل ځوانان راکښته سول او زه يې موټر ته پورته کړم، ذهن مي کار نه کاوی چې دا اوس کومه پيښه ده، د ايران حکومت تر سرحد درپسي راوښتی، بيابه مي فکر وکړ چې دومره مهم ترهګر خوهم نه يې غمی يې غمی، سترګي يې راوتړلې او دوه ساعته مزل يې راباندي وکړ وروسته يې سترګي راخلاسو کړي او په غره کي يې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غار ته و خیزولم زما د پلار شمیره پیاد وه هغه یې راڅخه و غوښتل زنګ یې ورسره ووهی ستازوی مي غلا کړل یولک پیسې راوړه زوی دي ژوندی بوزه، د پلار خبري مانه اوریدې خو دلته مي شپه سوه له شپې میاشت سوه فکر وړی وم پلار خومي دومره پیسې نه لري شاید فقر وکړي، کوم څوک به یې ورکړي که یا همدا چورتونه وو زه وم او په غره کي غار وو، دوه وخته ډوډۍ وه د اوداسه اوبه وي او یو څادر و د لمانځه لپاره بس خلاس.

خو خیر

دوه میاشتې همدلته تیري سوي یو وخت وو چې پلار مي له دوی سره د نورو قاچاقبرو په واسطه جوړ امد ته رسیدلی وو زماکار خلاس سو د نیمروز په بازار کي ما او پلار سره یوځای سو، نور مي خبرو او هرڅه ته تر وس تیره وه موټر ته وختلو تر دا مان ولسوالي چې وتلو لږ پر حال سوم، ځان ته مي وکتل وچ کلک ډنګر، سترې، تور مخ، شونډې پرې، خیرن کالي او مریضي داسي کړی وم لکه یو اسکلیټ بس نور څه نه وو پلارته مي وویل:

واده او مراسیم مو پخیر سوه، پلار مي هم وویل هو خو کاش چې بیخي مو کوزده لانه وای درته کړي، سړک هم سم نه وو څو ساعته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته کورته ورسیدو د مور، خویندو ورونو او کلیوالو خوشحالي ماته هم لږ همت راکړ او شکر مي وکاړی چې دومره غمخوران خو لرم.
اوس نو زه هم دردو وزلی وم لږ مي خپلې خونې ته زړه ور کشیدی چې وګورم څه وړ میرمن مي ده او څه وړ خوند کوي واده.
مور مي ویل بچیه ستړی یې، مریض یې بدخابه هم یې ولاړسه وختي پریوزه، خبره یې دیما پر زره وه خو په خوله مي نه ویل ولاړم او د خونې په وره کي مي اول قدم کیښود دا وخت نو زما د واده له ورځې تقریباً ٦ میاشتې شا او خوا تیري سوي وي، کوټې ته په بسم الله ننوتم میرمن مي ناسته وه لکه عادي د کور ښځه نه نوي جامي وي، نه پایزیب وو، نه میخک او نه سپیده وه، حیران سوم دې خوباید نن د واده شپه جوړه کړي وای چې وررنژدې سوم انسانان ټول کمزوري پیداسوي زه هم شرمیدم او دا هم خو خیر انسان اول د میرمني پر مخ مینیږي او وروسته ورسره مینه کوي خو چې مخ مي ور لوڅ کړ شاته مي وکتل د پښتنو یو رواج دی چې زوم ته په اوله شپه مور یا خوندي د دروازې تر شاه پټیږي چې عکسالعمل یې وګوري او زړه یې پرې ښه شي دوی هم مناسبات پرځای کول ملامتې نه وي.
مخ چې مي ولیدی پوه سوم چې د عمرونه زړه یې راته غوښتې، اخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربه، زموږ کوم مسؤلیت چې د پلار پر اوږو وو یو یې هم سم نه دی ترسره کړی، نوم مي غمی دی، تعلیم مي نه دی کړی او واده هم د کلیوالو په خوښه راته سوی دانو اوس کومه زمانه ده، هغه زما ستړې، زما هوس، زما مصرف زما ارامان هرڅه له خاورو سره خاوري سول اوږد و غځیدم ځان مي پر خوب او ستړیا واچوې له ځان سره مي وویل چې هرڅه وکړي بد رنګې دي د پلار ده ارام اوسه پر زړه یې تیروه غمیه.

خو لنډه داچې د واده په ټول خوند نه یم پوه سوی او نه مي هم ترې اولاد سوی خوبس ما د پلار او کور لپاره ژوند کاوی ما ددوی زړونه او حیثت ساتی هغه چې خبریدم پر ما عمر تیر وو.

کیسه یې ډیره غمجنه وه ماهم په همدې خبره ورسره پای ته ورسوله چې ، ته ملامت نه یې د میرمنې یا خاوند ټاکل د هر انسان هغه ځانګړی حق او حریم دی چې حتآ مور او پلار لا پکښې فقط د نظر حق لري، خو پښتون په ایران کې وي دلته یې ورته واده هم کړی وي، د افغانانو ژوند هم لکه وچه پاڼه د باد په خوښه مخته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غمی کاکا ملامت نه وو، بس د نوم په سر کي يې د غم توري اول وو. ولاړ سوم کاکا ته مي چاى ور واچولې او کاکا هم تر چايو مخته يو له نسواربوتل څخه په دوو ګوتو نسوار راواخيستل اول يې سږمو ته ونيول ځان يې پري ښه و پرچوى وروسته يې يوبل نامي نسوار وخولې ته واچوى خوله يې پرې قلف کړغ او سر يې بالښت ورکړ، ماهم خبري و نه غځولي يو ګړى يې بايد ارام کړى واى.

## ښه کار نه خپريږي!

غمي کاکا وروسته بيا په خبرو پيل وکړ:
هيريږي مي نه زما د واده دويم کال وو په کلي يوځوان له بيکارۍ او غريبۍ څخه د يو شخص له جيب څخه غلا کړي وه، چې کله پرې و اثبات سوه نور پر ځوان ژوند حرام سو، د ځوان پلار دغله په پلار، ځوان په غله، د ځوان د کورنۍ غړي هم دده دغلا په نوم تورن سول، ټولو ته يې د غله کورنۍ ويله داخو بلکل ناسم چلند دى، رسول ص فرمايلي چې که کو ماښام څوک پر يو بد فعل وليدى سهار په هغه سترګه مه ورته ګورئ ځکه چې کيداى سي هغه د شپې توبه کښلې وي او ستاسو دا ډول ليد بيا ګناه لري خو بس زموږ ملت نو کله سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او روا کار کوي، همیشه په دغسي ناوړه دودو کي دوی غرق وي لکه دا د شیطان وظیفه چې دوی په ټیکه نیولي وي.
ما ورغبرګه کړه، بس د ښه کارونو انعکاس یې کار نه کوي پر بدو خبرو نشرولو نو ټول غښتلې همدا ددې ملت ناکامي ده چې همیشه منفي نظره وي او دا ډول پیښې غواړي ووینې او نشر یې کړي، که هرڅوک د خپلې پوهې او علمیت په اندازه خبري وکړي، نو دلته به د ډیرو خولې ګنډلې ووینئ؛ ځکه هغوی په صحي او اصلاحي توګه د یوه حرف ویلو توان هم نه لري، خو اوس یې په ګڼه ګوڼه کي خپل ځان ورګډ کړی.

## د افغانانو ناروغې!

خیر غمي کاکا هم دومره ډیره دمه زړه نه غوښتل خبرو ته یې موقع لټوله ماهم فرصت ورکړ چې پیل یې کړي.

په وطن کي مو ځیني لا دا سي پیښې هم کیدي چې د کورنۍ یو یا څوتنه به د لوږې له لاسه مړه سو، سهار به یې د کلي خان په ختم کي پسونه حلال کړل، وینې به یې توی کړي او نسونه به یې ماړه کړل، خو هیڅا هم دا فکر نه کاوه چې نن کوم پسونه تاسو د کاذبې همدرۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه حلالوئ که مو پرون ددې نیمایې مرسته له همدې کورنۍ سره کړې وای نن به یې همدا حالت نه وو، دلته ډیر دغسي دي، زما ښه پیاد سي تربوران هم له یو بل سره دغسي نه کوي لکه د نن زمانې افغانان.

د افغانانو تر ناروغې زیات افغانستان ناروغه دی، چې ترڅو د افغنستان حالت سم سوی نه وي، د افغانانو حالت نه سمیږي، ترافیک خپله قانون ماتوي، قانون جوړونکي قانون ماتوي، پولیس خو بیخي قانون پیژني هم نه، په ښار کي ټولو یو سرګردانه حالت جوړ کړی.
زموږ ناروغي زموږ کمزوري ده، زموږ ناروغي زموږ بدمرغي ده، زموږ ناروغي پردیو ته جاسوسي ده.
ښه مي پیاد کیږي دیموږ په کلي کي یو دوه ځوانان د لوبو کولو پر مهال په جنګ سره واوښتل دوی د لوبو او خوشحالي کولو پرسر هم جنجالونه کوي، یو یې په چاقو ووهی زموږ خلک اکثره چاقو په جیب کي ګرزوي دا د غیرت او جګړه مار نښه ده دوی نه پوهیږي چې ترټولو ښه وسله قلم ده او ښه سرمایه کتاب دی، دوی ته یې نوڅوک ور وښیې ټول غریبان دي، هغه یوځوان یې لږ زخمي کړ دونه نه وو خوږ یوازي یې د لاس پوست وا وښتی وروسته مو کتل ټول لوی لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي وو د ماشومانو پر سر يې جنجال سره شروع کړ ددې پر ځای چې روغه سره وکړي او يوله بل څخه بخښنه وغواړي نور يې هم جنګ تيز کړ خو خير په يوه طرف کي يې دا يو په چاقو وهل سوی ځوان زيات خوږ سو جنګ خلاس سو، وروسته خلکو فيصله وکړه چې د چاقو وار کوونکی ملامت دی نور يې هغوی ته وويل چې په مرکه ورسئ او پور ور وړئ يوه ورځ وروسته دوی همداسي وکړل د معمول سره سم يې پنځوس زره کالداري، يو پسه او شل سپينږيري وروستل هغوی ورته اجازه نه ورکول ځکه ويل يې چې زموږ هلک زيات خوږ دی اوس مو وړې پاکستان ته ترڅو يې د صحت حالت مالوم سي بيابه خبري کوو ددوی خبري ډيري له درد او نفرت څخه ډکي ښکاريدې زما هغه ورځ پياد وه چې هلک ډير لږ خوږ وو حال داچي د پاکستان پرځای يې په يو کلېواله دواخانه کي هم ګزاره کيدله خو دوی سملاسي داسي کول دوی د خپل زخمي پر سر پيسو اخيستلو ته لار جوړوله، دوی د نفرت، جنګ او بدبينۍ سرو لمبو وهلي وو اخير يې يوه مياشت وروسته په دوه لکه کالداري جوړه وکړه د مرکې پسه يې هم واخيستی او جوړه يې وکړه اخير يې هم خپل هدف ترلاسه کړ خو د نورو په زهيرولو او ستړي کولو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږ د خلکو کمزوري ده، ددوی غیري ټولنیز او بشري کمزورتیا زموږ ټولنه تر خاورو لاندي کړي ده.

غمي کاکا دچایو ګېلاس یې خالي کړ او د ګېلاس پر سر یې لاس د بس په بڼه کیښود پوه شوم چې نور د چایو خوړلو علاقه نه لري، پښې یې و غزولي لږ یې بالاښت ته ځنګ ورایله کړ د سهار اذان ته دري ساعته وخت پاتي وو دا وخت د مجلس لپاره ښه کافي وو خو که موافقه وسي، غمي کاکا ته مي وویل چې ویدیږې او که مجلس کوي ویې ویل یایا نن به د سهار لمونځ په ویښه کوو نور وخت مو یوه سترګه ویده او بله ویښه وي بس لمونځ وکو نه موږ پرې پوه سو او نه یې په ښه توګه دا فرض ترسره کړو نن یې وخت دی چې په روڼو سترګو لمونځ وکړم، ماهم بغیر له دلیله ومنلغ او د هو په بڼه مي سر وښوروی.

## زموږ ټولنه او خرافات!

غمي کاکا ته بیا د موضوع چانس په لاس ورغلی دستي یې بحث پیل کړ.

زموږ ټولنه همیشه د ستونزي تل ته د رسیدو پرځای د ستونزي په منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا پای کي د هغې په حل پسي ګرزي، خدای ج هرڅه امکانات، لار او لیکه په لاس ورکړي خو پر هغه لار نه ځي دا ددوی بدبختي ده، ددې ملت افراد یو هم له مور او پلار څخه دعا نه اخلې خو د مسجد له ملا څخه دعا غواړي، د ملا صیب په پښو کي سر ږدي، د هغه له ویري هرڅه پریږدي مګر د الله ج ویره هیڅکله نه محسوسوي، جادو، کوډې او تعویزان خو پر ملایانو پور دي، دوی هم ښه په نره پیسې پري اخلي، د یوه کور ورخراب کړي د بل دا ور شین چمن کړي، یوه ته ګوته ور رنګ کړي غل یا مجریم په ووینې او بل ته بیا په هګۍ کي کوډې ورپیدا کړي مصرف یې یو پسه یا یو وزګوړی سي، دوی خپل پلرونه او میندې هیري کړي دي چې ترې دعا واخلي، دوی خپله قبله هیره کړي وي چې ورته لاس لپه کړي دوی خپل رب ج دومره نه یادوي څومره چې د مسجد ملا اکا یادوي، د هغه ډېر تعظیم کوي حتا سر یې د نس تر منځه را ورسیږي، ملا اکا که نو په شي خبر وو یانه بس سپینه بګړی، توره غټه ږیره او د مسجد محراب د هرڅه معیار دی، همدا ملت که د خپل مور او پلار مشر وروړ احترام، عزت او امر منونکي و اوسي بیا به نه ملااکا ته وخت پاته سي او نه هم د ملا اکا و تعویضي ته، ملا اکا دین او سیاست جلا ګڼې یا به دین پالې یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست ددواړو ګډول کفر دی، حال داچې سیاست او دین سره ګډ دي، ددوی بیل والی د سیکولرانو کار دی، رسول الله ص تر ټولو ښه سیاستپوه او سیاستمدار وو، هغه هر اسلامي امر او ارشادات د یو ښه سیاست په واسطه تطبیقول.

ما ور غبرګه کړه چې هو کاکا موږ همیشه په یو غلط ادرس پسې یو تر هغه وخته چې تر کړنګ ولویږو، هرڅه غواړو په خپله تجربه کړو د نورو له تجربو هیڅ درس نه اخلو اخیر هم دا خپل ژوند په تجربو راباندي تیر سي، ملایان که په سیاست کي شراکت وکړي ټولې چارې به ښایسته سي ځکه سیاست د اسلام له نظره د اصلاح او ښایسته کولو په معنا راغلی، موږ اوس په یو نړیوال کلي کي ژوند کوي اړتیا ده چې هغوی زموږ له اعمالو او افعالو څخه متاثره کړو نه متنفیره، موږ باید هغوی په دې و پوهوو چې د اسلام مبارک دین یعني څه؟ موږ باید د هغوی توجه راجلب کړو همداسي مي خبري پسي و غزولي خو لږ پوه سوم چې خوب راباندي غلبه کوي کاکا ته مي وویل چې ویده به سو سهار له لمانځه وروسته به ترچاي خوړلو وظیفه وکړي او وروسته به مجلس وکړو ښارته به هم ووزو او وبه ګرزیږو کاکا هم بغیر له مخالفته ومنله ویده سو کاکا ته مي تر سر پورته د اوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګېلاس او منګی کېښود زه هم ترې ولاړم.
سهار لمانځه ته مي پرې ږغ وکړ چې پاڅه کاکا د لمانځه وخت دی فکر مي نه کاوه بس لکه شل کلن ځوان داسي په قوت راپورته سو اودس يې وکړ مسجد مو د کورڅنګ ته نژدې وو ولاړ په ملا اکا پسي ودريدلو لمنځونه مو وکړل چې دعا ته مو لاس پورته کول ملا اکا په نصيحت پيل وکړ موږ هم ملاوي ديوال ته ورکړې چا چې به کار درلود يا به هم ددوی په خپل فکر عالمان وو ووتل او کورو ته يې ځانونه رسول غوښتل.

## د لور ارزښت!

ملا اکا تر لنډ تلاوت وروسته په پښتو خبري پيل کړي:

قدمندو ناستو حاضرينو نن پر څو موضوعاتو خبري کوم چې اوله له هغو څخه يې د لور او زوی موضوع ده.
ای مسلمانانو تاسو د جهالت دور ته تلونکي ياست، تاسو د مکې د مشريکينو عملونه ترسره کوئ، تاسو مو خپلې لوراني د بدبختې سبب ګڼئ او زامن د سيالداري سبب ګڼئ، په تاسو کي څوک ولي د خدای دی چې دا امرونه راوړئ او په زړونو خبر ياست؟ د جهالت دور درپياد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړېږ په هغه وخت کي به مشرکينو خپلې لوراني ژوندی ښخولې، د لورانو په پيداکيدو سره به شپه او ورځ له کوره نه راوتل ځکه دوی به دا شرم ګڼی، دوی به خپلې لوراني د بدبختۍ سبب ګڼلې هغه به يې ژوندۍ ښخولې او يا به يې په بدو کي ورکولې تاسو ته خو اسلام په دې اړه خبر درکړی چې تاسو له خپل شر او خير څخه نه ياست خبر تاسو که زوی بختور ګڼې نو هغه زوی به تاسو بدبخته کړي او هغه لور چې تاسو يې بدبخته ګڼې هغه به ستاسو کور ته ښکلا ورکړي، نظم به ورکړي، نظافت به يې وکړي، د يوبل کس نيمګړی ايمان به پوره کړي، د پلار خدمت به وکړي د ورور عزت به وکړي ايا تاسو له خپلو اولادونو ډېر رنځ وړئ که له خپلو لورانو؟ ښکاره ده د دلورانو په تناسب هر يو له خپل بې تربيې زوی څخه رنځ وړئ، نن چې د چا لور پيداسي په کلي کي مخ نه لري، په کور کي هم يو اوبل نوم ورته اخلې حتا د ښځي په نوم يې نوموي ولي ځکه چې ده زوی نده راوړی، ايا د زوی راوړل نارينه توب او د لور دا ښځي توب دی؟ تاسو پرخپلو ايمانونو و ويريږئ، اولادونه مو که ښځينه وي که نارينه د الله ج له طرفه يو ښايسته ډالۍ ده ويې منئ، مننه يې وکړئ او پالنه يې وکړئ. لور د رحمت سرچينه ده، لور د همت ډکه اينه ده، تاسو مو د لورانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسمال او واده کي څومره نارې وهئ اه مصرف وسو، اه میلمانه زیات مه راغواړئ اه ډیر رش مه جوړوئ مازي یې په پرده کي وباسئ اه ډیر شیان مه پخوئ خو د زوی په واده کې چې مو ښه عالی درجه ډوډۍ د ټول ښار ځوانان، لوکس موټران او ښه هنرمندان نه وي راغوښتې خوب نه درځي ایا همدا د لور او زوی ترمنځ د حقوقو ساتل دي؟ ایا تاسو هم ځانو ته نارینه وایاست؟ تاسو هم کله له لورانو څخه د متقابل چلند هیله لرئ؟ بیاهم چې مورړ سره کښینو یو اوبل ته وایو ولا چې بس دالور مي یوځای خوندي کړي وای وخت د پتنو دی ایا کله مو هم د خپل زوی پر سترګو برغولی ور ایښی؟ تاسو د خپل زوی لار څارلې چې هغه څه کوي؟ د خپل زوی غم ور وخورئ چې نور ترې په امن سي د لور سر ته مه کښینئ چې ولور به یې وخورئ، د ښادیو په مراسیمو کي خو ټولو نارینه وو ته اول درجه بوټ، کالي، صدرۍ او خولۍ ور رانیسئ خو د لور مو ټول مصرف زر کالداري وي ایا همدا مو بس نده چې لور ستاسو لپاره څومره قربانې ورکړي؟ تاسو د خپلي لور د زړو بوټو او کالو شکایت اوریدلی؟ خو زامن هره ورځ پر هره دروازه تاسو ته ولاړ وي او د نویو شیانو غوښتنه کوي، همدا د لور ارزښت دی، همدا د لور ګرانښت دی، انجونې د کورنو ښایست دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بغير له ښځو کور ذندان دی، انجوني مه رټېځ، بدي يې مه ګڼېځ، هغوی وپالئ، مينه ورکړئ، حق يې ورکړئ، د کوژدې لپاره يې ورته مناسب ځای وټاکئ نظر يې واخلئ، په ښه شان او شوکت سره يې له کوره رخصت کړئ، هر وخت يې پوښتنه کوئ، مه پريږدئ چې ستاسو څخه يې زړه ازار سي، پريږدئ هغه د کفارو د وخت عادتونه او رواجونه.

ملا اکا اوله موضوع پای ته ورسوله خدای شته ماته يې خبرو ډير خوند راکړ ځکه هغه ځای يې و ګراوه چې کاه يې کوله نور وختونه به له ښو او بدو کولو څخه منع کيدو نور به شی نه وو نن همدې خبرو ډير خوند راکړ په طمعه وم چې دويمه موضوع به د چيشې وي غمي کاکا ته مي د سترکو تر کونجو وکتل خبرو يې ښه خوند ورکړی وو ځکه ملا يه نوره هم ديوال ته ټينګه کړه و پوهيدم چې د ژر وتلو تکل نه لري.

## ښه کورنۍ!

ملا اکا بيا په خبرو پيل وکړ دا مقدمه يې په کورنۍ، ښځو او حقوقو شروع کړه، بيان يې پيل کړ اول يې د ښځو د حقوقو په اړه وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضرینو مسلمانانو ښه کورنۍ د ښه ټولنې لپاره مقدمه ده او ددې مقدمې سر ټکي خاوند او میرمنه دي، تاسو فکر وکړئ چې تاسو ددې ټولنې مقدمه څه ډول پیلوئ ښه او که بده ؟

له مېرمنو سره مو د ملګرو په څیر ګزاره وکړئ د سیالانو په څیر نه، اکثره خاوندان خپلې ښځې تر ټولو لوي سیالاني د ځان ګڼې دا ډیره بده ده ځکه هیڅکله یو سیال خپل بل سیال ته خپل د بدن اندامونه نه ور ښکاروي نو دا ښځه مو څنګه سیاله سوه؟ دا یو غلطه مفکوره ده چې له وختونو راهیسې زموږ په ټولنه کي رواج سوي او د ټولو خلکو ګډ خوږ ژوند یې ور بدرنګه کړی دی.

مېرمنې مو خپلې ملګري وګڼۍ، دهغوی وریښتان هره ورځ مه ورشکوئ، وهل او ټکول مه کوئ ځکه وهل د حیوانانو لپاره دي، انسانان خو په خبره پوهیږي، میرمنې مو د کورنۍ چارسمبالي دي، د ورځې د ستړیا زور مو تر دوی مه کاږئ، میرمنې مو معصومې دي، خندا ورسره وکړئ کمیږي نه، د ورځنیو چارو پوښتنه یې وکړئ تر څو دوی ته د مالیکت احساس پیداسي، میرمنې مو د مزدورانو په څیر مه کاروئ، کار به درته وکړي سمده خو تاسو هم ورسره د بشر په څیر کړه وړه وکړئ نه د حیوان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زامن مو هم د کورنۍ برخه و ګڼئ تعليم ورباندي وکړئ، ساتنه او پالنه يې وکړئ، څارنه يې وکړئ، له بيځايه ګرزيدو يې را وګرزوئ، د نظافت خيال يې وساتي خيرن انسان ټولنه ځپلوي، په کوټه کي له ميلمنو سره د ناستې اصول ور وښياست، کورنۍ او ټولنيزه تربيه ورکړئ، ټولو ته مساوي حقوق ورکړئ، اولادونه پر والدينو د ښه نوم، تعليم او کوژدې حق لري هر پلار چې همدا درې حقه ادا کړل خپل خدای مسوليت يې تر سره کړ، اولادونو ته مو د مشرانو په مخ کي د خبرو کولو څخه پرهيز کول ور وښياست، دوی ته د انساني برخورد کولو په اړه ووایاست، د صداقت له مکتبه يې فارغه کړئ، منافقت مه ور ښياست، د اخلاقو په بهترين مرکز کي داخله ورته وکړئ، همدا ستاسو اولادونه ستاسو شملې دي مه پريږدئ چې شملې مو پرځمکه و غورځيږي.

په لورانو مو تعليم وکړئ، ځکه يو با تعليمه مېرمن يو تعليم يافته کورنۍ رامنځ ته کوي، لورانې مو د خپل زړه برخه و ګڼئ او ددوی په خوښه ځای يې د ژوند شريک وټاکئ، لکه پسونه چې په ګنج کي ناخبره کس ته په پيسو ورکوي تاسو مو لورانې په دې شکل سره مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوئ، څنګه چې مو د زامنو لپاره ښه ځای ګورئ همداسي مو د لورانو لپاره مه ښه ځای وګورئ.

د لورانو او خویندو په روزلو کي ثوابونه دي، ځکه چې ډیری خلک زامن تر لورانو ښه ګڼي په همدې خاطر الله ج دي لور او خور تربیت کوونکو ته د ډیرو اجرونو خبر ور کړی، دویم دلیل یې دادی چې مخکي تراسلام به لورانو ته په نه او بده سترګه کتل کیده ځکه ورته الله ج ډیر اهمیت ورکړی او رحمت یې بللی.
الله ج به په ورځ د قیامت له همدې مړې نجلۍ څخه پوښتنه وکړي او وبه فرمایې چې ته یې په کوم جرم مړه کړي یې ؟
هغه وخت چې اسلام نه وو راغلی پر هر کس چې به یې د لور د زیږون زیری وکړ مخ به یې تک تور وا وښتی ځکه ډیر د شرم کار ورته ښکاریده.
که به یې مړه هم نه کړه نو په کور کي به یې وساتله چې کله به لویه سوه خرڅه به یې کړه لکه دا اوس او حق به یې هم نه ورکاوه‌لکه په اوس وخت کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اوس چې مونږ داسي در بدره يو، ټوک ټوک يو، پښه مو ځمکي ته نه ورځي، دا غټي نافرمانۍ او سر کښۍ په مونږ کي سته ځکه مونږ لور ته د انسان په سترګه نه ګورو، په ميراث کي برخه نه ورکوو، چې کله لويه سي خرڅه يې کړو، چې کونډه سي دخسرکورنۍ يې په واک کي واخلي وای دا زمونږ کونډه ده.

دا ټول رواجونه د جاهليت د زمانې دي، نو ځکه نبي ع ص په خپلو ارشاداتو کي يادونه کړي چې د نجلۍ په تربيت کي ډير ثوابونه سته.

رسول الله ص فرمايلي: که د يو سړي درې لورانې وي، اوياې درې خويندي وي، ياهم دوې دوې وي، ده نيکي وکړه له دوی سره په ملګرتيا کي، داسي ملګرتيا چې ښه يې وساتلې او ښه يې وپاللې نفقه، جامه، د اوسيدو ځای او تربيت يې وکړ، ددې ترڅنګ ورسره تر همدې زياته نيکي هم وکړي ښه جامې، ښه خو اک ښه پالنه يې وکړي او له الله ج و ويريږي ددوی په مقابل کي الله ج به په همدې بدله کي ورته جنت ورکړي.

تاسو فکر وکړئ د حديث شريف په مفهوم ځانونه پوه کړئ تاسو دخپلو لورانو او خويندو حق حقوق ورکړئ ترهغه يې هم زياته ښه پالنه وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ته به يې په مقابل کې جنت درکړل سي ايا تر دې هم بله بهتره لاره وينئ.

ځنګه چې ملا اکا و فرمايل ډيري پرځای او دنن د اړتيا وړ موضوعات يې را و سپړل، زموږ ټولنه همدا بد رواجونه لري، نارينه هغه دی چې سهار او ماښام خپله مېرمن ووهي، لس اولادونه و زيږوي ښوونه او روزنه يې نه وي، رزق پر الله ج پور ګڼې خو خپله هيڅ نه کوي، اولادونو که يې ټوله ټولنه شريره کړي وي او يا يې نيم کلی په جنګ اچولی وي د زامنو ملامتي نه مني بس دا دالله ج له لوري ګڼې چې د هغه خوښه وه، له بده مرغه بايد ووايم چې دوی ټول سپين چرګان دي چې په سر سايه کي يې خلک ملايانو ته ورکوي، دوی هيڅ ګنا نه وي کړي.

غمي کاکا ته مي فکر سو دواړه سترګې يې په ملا صاحب کي ښخي کړي وي، انتظار وو چې دا وار به کومه داسي اړينه موضوع را وسپړي چې د زړه غوټې مي پري خلاسي او غم يې سپک سي، ما همداسي د سترګو ترکونجو ورکتل خو ده زما لور ته هيڅ فکر نه کاوه يايې هم بلکل فکر دلته وو لانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا اکا بیا په خبرو پیل وکړ یو او نیم کسان وتل تر ډیره دوی یې ځوانان وو، دوی فکر کوي دین د زړو لپاره دی او موږ په هر تاله پوره یو ددین او محراب خبري باید یوازي سپینږیري واوري، او سپینږیرو هم تر ډیره ژوند ددوی په څیر تیر کړی وي اوس غواړي ددین لار و نیسي، خیر موږ یې څه کوو، را ځو د ملا اکا خبرو ته غوږ نیسو او څه ترې زده کوو او یا عبرت ترې اخلو.

## مکتب که مدرسه!

دا ځل ملا اکا خبره د مدرسې او مکتب تر عنوان لاندي را پیل کړه زړه مي بړغ را وکړ چې اوس نو له غمي کاکا سره ځان ورته ټینګ کړه ځکه زه پوهیدم چې په همدې موضوع کي بیا له افراط او تفریط څخه استفاده کیږي او زموږ ټوله خواري به اوس په یوه دقیقه کي په اوبو لاهو کړي نه یوازي دا بلکې یو څه ناڅه به زموږ پر شخصیت هم و موښلوي ځکه د نن سبا ټوله ستونزه دوی عصري علوم یادوي خو بیا هم پر زړه مي لویه ډبره کېښوده او په زړه نازړه مي ځان ته همت ورکاوه چې راځه خیر دی ستونزه نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا اکا غاړې تازه کړي او ويې ويل: زموږ ستونزه زموږ غريبي نه بلکې ناپوهي ده، زموږ جهالت او سرکښي ده، يو بل نه منل دي او تر ټولو زيات افراطيت دی چې موږ يې د ځمکې تل ته اچولي يو، مکتب او مدرسه دواړه د علم ترلاسه کولو مرکزونه دي، د جهل ماتولو سنګرونه دي، دوی د يوه پلار دوه اولادونه دي د دواړو ساتنه، پالنه او حفاظت زموږ ديني مسوليت او سپيڅلی رسالت دی، هر هغه ځای چې پکښې د جهالت په وړاندې مبارزه کيږي مقدس ځای دی هغه که مدسه وي، مکتب يا کوم بل ځای، د دوی ترمنځ توپيري چلند ناسم فکر دی، دوی د زده کړو مرکزونه دي، زده کوونکي يې سره ورونه دي، ښوونکي يې ملګري دي، دوه ماشومان له يوه کوره دواړو ادرسونو ته مراجعه کوي ايا دوی يو بل سره بايد دښمنان سي؟

ملا اکا دمه کوله ما ژر د فکر ځراغ بل کړ، رښا ته مې وکتل ځليده، نن ډيره ښايسته وه، ارمان يې پوره وو، نن ورته په ښه سترګه کتل سوي وو، نن د مدرسې مشر ورته د جهالت په وړاندې د مبارز نوم ورکړی وو ولې به په ځان نه وو غره، د ملا اکا په اړه مې ليد بدل سو، ملا اکا منځلاری مخته تلی، بايد چې همداسي يې کړي وای ځکه اسلام خپله د اساني دين دی، منځلاری اوسيدل يې غوښتنه ده ملا اکا ملامت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو خپل مسولیت یې ترسره کاوه، ملامت موږ وو چې هر سپین کالي
ته د ملا په سترګه ګورو، ملامت موږ یو چې خپل علم ته د تقویې دوا
نه ورکوو، فکر کولو ته مي رخصت ورکړ ځکه ملا اکا انوار را ورول
باید چې ترې لاندې درېدلای وای.

ملا اکا د اوسنۍ زمانې سره مزل کول د دیني او عصري زده کړو په
ترسره کولو سره بریالی و ګڼی بغیر له دوی څخه یې همدا مزل
نیمګړی او ناکام و باله، باید چې همداسې یې ویلي وای ځکه موږ
باید د الله ج دین او ارزښتونه یې تر نورو ورسوو، نورو ته د رسیدو
لپآره موږ باید د عصري نړۍ اصول زده کړي وای.

ملا اکا په تونده لهجه او لوړ اواز سره وویل: تاسو حاضرینو تر اوسه
خپل مسولیت په همدې برخه کي نه دی ترسره کړی، تاسو هر یو دوه
اولاده لرئ یو مو مدرسې ته استوئ دویم مکتب ته خو ددوی ترمنځ
اړیکو باندې هیڅکه تاسو له دوی سره خبري نه دي کړې، ایا تاسو
ددوی دواړو ترمنځ کله هم اتفاق کړی؟ یایایا بس ټول مسولیت زموږ
تر محرابه را زغلوئ، تاسو خو هم په دې برخه کي خپل رسالت ترسره
کړئ، عصري زده کړي له دیني زده کړو سره لازمې او ملزومي دي، په
لورانو مو تعلیم وکړئ هغوی هم د تعلیم حق لري، حضرت عایشې رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم علم حاصل کړی، دا ددوی حق دی ایا تاسو دا لازمه ګڼئ چې ستاسو د مېرمنې عملیات یا صحت کتنه نارینه ډاکتر وکړي؟ یایا ټول همدا وایاست نو بیا ولې په لورانو تعلیم نه کوئ؟

لورانو ته مو هم د تعلیم زمینه مساعده کړئ موږ یې خلاف نه یو ولې؛ په یو اسلامي چاپیریال کې د ښځینه ښوونکو له لوري باید وسي، اولادونو ته مو هم نصیحت وکړئ چې د مکتب نجونې مه رټئ، هغوی ته په لارو او کوڅو کې پاکټونه مه غورځوئ، په صنف کې پر تخته او دیوال ورته په خپلو نومونو شمیرې مه ځړوئ، دوی هم ستاسو خوندي دي، د تعلیم چاپیریال یې ورته خوندي وساتئ ترڅو دی هم په ډاډه زړه تعلیم وکړي.

ملا اکا یوه بله موضوع هم په لنډو ټکو را وسپړله یو دم یې اواز وکړ او ویې ویل:

ایا پوهیږئ چې ښه مسلمان څوک دی؟ تاسو تر ننه له ځان څخه همدا پوښتنه کړې؟ که مونه وي کړې نو نن یې زه درته وایم چې ښه مسلمان څوک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوږ نبي رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یو چا پوښتنه وکړه چې ای د الله ج پیغمبره کوم اسلام ښه اسلام دی او کوم مسلمان ښه مسلمان دی؟
نبي علیه ص جواب ورکوي چې هغه سړی ښه مسلمان دی چې نور مسلمانان یې له لاس او ژبې څخه په امن کي وي.

دده له لاس او ژبې څخه ځوک نه ویریږي چې غلط عمل به پرې ترسره کړي، په ژبه به غلطه خبر وکړي، په ژبه به غیبت، ښکنځل، بحتان، چغلګري او فحشا نه خپروي.
په یوبل حدیث شریف زموږ خوږ نبي رسول الله ص فرمایې: په تاسو کي ترټولو غوره هغه ځوک دی چې نورو ته خیر رسوي.

ښه مسلمان د ضرر نه رسولو ترځنګ باید نورو ته ګټه هم ورسوي ترڅو بهتره مسلمان و اوسي.

که چیري یو کس په لاس او ژبه خلکو ته ضرر رسوي، داسي سړی نه یوازي دا چي په خپله بد سړی ده بلکي د خلکو د اوږو بار ګرزي، په ځمکه کي فساد خپروي، غلاوي زیاتیږي لکه دا اوس، حکومت فاسد سي، رشوت زیات سي، اداري نظام له منځه ولاړ سي، د کورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنیت خراب سي، دخلکو ترمنځ د باور فضا له منځه ځي، دا حالت ځکه راځي چې خلک بد عملونه ترسره کوي نبي علیه ص فرمایې : ستاسو عملونه به پر تاسو حاکمان وي.

که موږ وغواړو چې ښه مسلمانان و اوسو نو باید له لاس او ژبې څخه مو نور په امان کي اوسي، غیبت، تهمت، شیطانت، چغلګري او داسي نور ناوړه عملونه باید په ژبه ترسره نه کړي لکه همدانن چې د خلکو ورځنی کار ګرزیدلی. په لاس سره هم باید نور مسلمانان ازار نه کړو، غلا، وهل، بده لاره، خیانت او فساد باید و نه کړو. و من الله توفیق.

ملا اکا خبري نوري اوږدې نه کړي خو زما فکر وو چې باید تر غرمې خو یې سپیکر نه وای بند کړی او له ځایه نه وای ولاړ سوی، خوند یې راکړ ځکه منځلاری وو، سخت دریځه نه وو، د اوسني عصر په ټولو بڼانو یې سر خلاسیده او په زخمونو یې ملهم لګول، غمي کاکا ته مي فکر سو سر یې د ناخوښې په ښه و ښوروی داسي چې ولي یې نصیحت بند کړ ده ته یې هم خوند ورکړی وو، غمي کاکا جیب ته لاس ور اوږد کړ د نسوارو بوتل یې را وکیښ پر خالي نس یې ښه نازدانه نسوار ور ایله کړ خوله یې پر بنده کړه ما ورغبرګه کړه کاکا څنګه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه چې د سهار پر چایو ملا اکا هم له ځان سره ملګری کړو و یې خندل ویې ویل تانو د خیر په کار کې مشوره لیدلې وي مازې یې را دعوت کړه.

ملا اکا ته نژدې ورغلم ماول څنګه ملا اکا چې چای زموږ سره نوش کړې ویې ویل سمده زه هم یوازې یم خبره اوکې سوه ملا اکا خپل کور ته ننوتی زه او کاکا کوټې ته راغلو کاکا ننوتی کوټې ته زه د کور پر دروازه راننوتم د چایو او ناشتې اډر مې ورکړ راغلم کوټې ته کاکا هم څنګ اچولی وو ور سره کېناستم وخت لا نه وو وتلی ملا اکا غاړې تازه کړې و یې ټوخل او د کوټې پر دروازه راننوتی.

ملا اکا منځلاری دیني عالم دی، خبرو او نصیحت یې ډیر تاثیر درلود موږ هم د چایو څښلو بلنه ورکړه ترڅو د غمي کاکا ترڅنګ د ملا اکا له ارشاداتو هم ځانونه خبر کړو، ملا اکا په تنه پوخ ولې په عمر خام وو، ځان یې ښه ساتلی وو، ملایان همداسې کوي ځانونه ښه ساتي سکوت مو مات کړ پوښتنه موسره وکړه غمی کاکا مې ورته معریفې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، ګېلې مي هم ورته وکړي او دوی دواړو ته مي د بحث پيلولو لپاره مقدمه ور وکړه او ما غوږ ورته ونيوی.

غمی کاکا وار له واره ورته وويل: ملا اکا نصيحت دي ډير خوږ وو، زما پر زړه ولګيدی، تا هغه څه وويل څه چې د ټولني او خلکو تقاضا وه، د نورو ملايانو په څير نه وږغيدي چې ښه کوی بد مه کوئ، نه د صحرا د ملايانو په څير و ږغيدې چې زکات او سر سايه و ملا ته ورکړئ چې هلته يوازي د ځانو غم کوي، ته پر عصري او ديني علومو هم و ږغيدې چې دا د اوسني زمانې ستونزه ده او تا ښه ور خلاسه کړه، د پلار، مور، لور او زامنو پر حساب دي هم خبري وکړي زه دي بيخي متاثره کړم، هلته وخت نه وو بحث ژر ختم سو ښه به وي چې پر ځينو مسايلو همدلته بحث وکړ ما مخکي له دې ځوان سره هم بحث پرې کړی ستا خبره د کاڼې کرښه ده ځکه به ته هم راسره نظر شريک کړي.

ملا اکا وخندل، فکر کوم د ځان په صفت خوشحاله سو، انسانان فطرتآ همداسي وي د ځان ستاينه يې خوښيږي خو کاذبه ستاينه انسان تر وخت مخکي پخوي او لار ترې ورکوي، غمی کاکا هم ملامت نه وو بايد د خپل مجلس لپاره يې همداسي کړي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مشرکینو پرقدم تلونکې انسانان!

ملا اکا مقدمه پیل کړه، خوښي یې وښوده او موضوع یې د اوسنۍ زمانې د ستونزو څخه پیل کړه یادونه یې وکړه چې: زموږ خلک هم لکه هغه د مشرکینو د قوم چې وي، افکار او عقاید یې هغوته سوي دي، لاهم پکښې دجهالت نښې نښانې ښکاري، له الله ج سره شریکان نیول سوي، کله د مخلوق صفت الله ج ته ورکړي کله هم د الله ج صفت خپل پیر یا لیوني ته ورکړي.

دمکې مشرکینو رسول الله ص ته وویل چې ته دا دصفا غونډۍ موږ ته سره زر که موږ به ستا نبوت ومنو، دوی فکر کاوه چې که یې همدا غونډۍ راته سره زر کړل موږ به زر واخلو او ولاړ به سو داځای یې ده ته پاته موږ ګټمن یو، خو دوی نه پوهیدو چې دا د خالق غوښتنه ده له مخلوق څخه یې باید طمعه و نه سي، هغه یوازي د الله ج کار دی، د ملایکو او پیریانو کار هم نه دی، دا ستونزه اوس زموږ په ټولنه کي ډیره تر سترګو کیږي د خالق ج صفت خاص دی هغه د زړونو مالک دی په قران کریم کي راغلي چي الله ج د زړونو عالم دی، کله کله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو نبي یا ولي ته د معجزې یا کرامت په سبب داخاصه ورکړي، زموږ خلک بس وایې چې پلانکی قربان یې سم بس چې دا زه ورغلم زما په زړه خبر وو، زما د زړه خبر یې راته وکړه دا شرک دی، دا د الله ج صفت دی بنده ګانو ته یې مه منصبوئ.

شرک الله ج هیچاته نه پریږدي، که یې خوښه سوه چاته به قتل وبخښي، غلا به وبخښي خو شرک نه بخښي، دا داسي عمل دی چې الله اعلان کړی دی چې زه هیچاته نه ترې ور تیریږم.

کله کله خالق ته د مخلوق صفت ثابت کړي، کله کله یو لیونی تر غوږ ونیسې چې پلانکی د ښار یا سیمي متصرف دی، نور که هغه هر ډول غل، بدکاره یاربېشرمه وي بس دوی ورته د الله ج صفت وقف کړی وي، دوی وایې چې دا په ځمکه کي د الله ج وزیر، والي، ولسوال، خان یا ملک دی ځکه دوی فکر کوي چې دا هم د یو انساني دولت په څیر پاچاهي ده.

موږ که همدا خبري پر ممبر وکړو هغه ګړی راباندي ټاپې لګوي خو کتابونه نه ګوري چې هلته څه لیکل سوي دي، بس په پټو سترګو قضاوت دی دوی یې کوي، دوی د مذهب ټیکداران ځانونه معریفي کوي،دوی بس پلانکي لیوني یا تش په نامه پیر ته بس ژاړي دعا ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي، پيسې پر شيندي، کور يې له خپلو ښځو سره کينوي، سر پر ماتوي او ترټولو ورته په لوړ احترام قايل وي.

موږ بايد په دې ځانونه پوه کړو چې څه د الله ج صفت دی او څه يې دبنده‌ګانو، د يوسف عليه سلام په وخت کي هغه پيغمبر وو خو باران يې نسوای اوروﻻی دا صفت يوازي د الله ج دی بل چاته يې بايد منصب نه کړو، چې‌کله تږي سو اوبه مو کړو دا الله ج دی، داچې وږي سو ډوډۍ راکړي دا هم الله ج دی، يو پير او فقير دا نه سي کوﻻی، دهر غنم په نس کي وړه جوړول الله ج کوي دا له امريکايانو تر فقيرانو هيڅوک نه سي کوﻻی.
مخلوق عاجزه دی، د عاجزي صفت به هيڅکله الله ج ته نه ثابتوئ، خالق خلق کوونکی دی بنده ګانو ته به همدا صفت نه وقفوئ، دلته خو ډيرو د پيسو راټولولو لپاره همدا ترټولو ښه ﻻر پيداکړې، د نفوذ ساحه يې هم پراخه کړي وي خو دوی سر نه خلاسوي چې الله ج ښه حساب کوونکی دی.
له الله ج سره به هيڅکله شريک نه نيسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا اکا موضوع پر همدې ځای بس کړه د ګېلاسونو ږغ تر کوټې راورسیدی، هلک پتنوس په لاس کي نیولی وو کوټې ته راننوتی، له ملا اکا سره یې روغبړ هم وکړ بیرته ووتی دستې یې د چایو ترموز او د هګیو کړایې کوټې ته را دننه کړه تر کړایې مخکي د هګیو ښایسته بوی د ټولو تر سږمو ورسیدی خوند یې هم همدا وو، زما حاجي کاکاته فکر نه وو د سترخوان مي هوار کړ ګېلاسوته مي بوره واچوله چاې مي پکښې توی کړي غمي کاکا ته مي د را پورته کیدو په بهانه سر و ښوری هغه هم په ډیر تکلیف ځان سره راپورته کړ په خوراک مو پیل وکړ ملا اکاهم خپل پښتني او انساني اصول پرځای کړل د هګیو د پخولو یې هیڅ ضرورت نه لیده، ویل یې هسي به مو ساده چای ترستوني تیري کړي وای، ما ورغبرګه کړه هغه نوکله پښتون دی چې د مېلمه عزت په مړانه سره ونه کړي، د همدې لپاره یې ګټو چې د خپل سیال او دوست لپاره یې خاورې کړو، قبر ته هیڅوک پیسې نه وړي، دواړو د مننې په دود سرونه و ښورول او په کړایې کي یې ګولې ښخي کړي، زه هم بختور وم منځلاری ملا او وطنپاله صوفي په لاس راغلي ول څومره چې مي ددوی خبري اوریدې هیله او قوت یې راکاوه، موږ باید کار وکړو، د ستونزو له عامله خبریدم، حل لاري مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



و پلټلې، د خلکو دود او دوستور مي و پيژندی، د الله ج احکام مي واوريدل نن مي تر نورو ورځو زيات د الله ج ددين په اړه معلومات ترلاسه کړل همدا زما غرور وو، هلک ته مي ور ډِغ کړل چې مالګه راواخله هغه هم مالګه راوړه لږ مي پر و دو ړوله خبري را لنډوم حاجي کاکا خو هم له سهاره راهيسې بحث ته اوږه نه وه جوړه کړې اوس يې ځه ناڅه غوښتل چې ووايې د ماشوم تر کېناستلو وروسته سمدستي يې پيل په وکړ:

زموږ ماشومان خو تر نهو بجو ويده وي، خيرن چټل کالي اغوندي، پيسو ته نيم زړه نه لري، که تا د نسوارو د بوتل لپاره جېب ته لاس کړ هم دی سره وښوري فکر کوي چې پيسې ورکوي، تعليم او تربيه نه لري، په کوټه کي تر مېلمنو د کوچني غالمغال زيات وي، د کورنۍ د مالک تر مېلمه پر اولاد ډېر فکر وي، کله ناکله خو مېلمه ته ښه په کاکا او ماما سره ښکنځل هم وکړي، دوی يې بده نه ګڼې چې ماشومان يې هرڅه کوي دا په حقيقت کي بې نزاکتي ده که ديما خبره درواغ وي ايه ملاصيب ناست دی راته ودي وايې چې چپه ګايږم.

## د ماشوم تعليم او تربيه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا اکا د غمي کاکا خبري تايد کړي، د منلو په دود يې سر وښوروی، غمي کاکا ته يې د ګولې ور اخيستلو وويل ملا اکا هم ګوله په کړايې کي و ځرخوله پر برېتو يې نرم غوړي بريښيدو د چايو غوړپ يې پسي وکړ ګوله يې ترستوني لاپوره نه وه تيره چې د په خبره يې پيل وکړ:

موږ بايد خپل اولادونه په اسلامي تربيه و روزو، څنګه چې ددوی د نظافت، اخلاقو، ګرځيدا، نظم، ډوډۍ خوړلو او مجلس ته د راتګ اصول ور وښيو ترڅنګ يې بايد په ټولنيزو او ديني برخه داسي و روزو چې له ماشومتوبه مو ددوی اساس ښه ايښی وي، داسي که تاسو چاته خيرات ورکوئ د خپل ماشوم په لاس يې ورته ورکړئ ترڅو ماشوم له ماشومتوبه په همدې فکر رالوی سي چې دنيا بايد قبر ته راسره يو نه سو او پاته کيدونکي ده، سخي روزل کيږي، تربيت يې بايد داسي وسي چې د ميلمه په جېب کي خپل رزق و نه لټوي، د ميلمه په جېب کي دي نه ګوري، بايد له ماشومتوبه يې داسي روزنه وسي.

او که له ماشومتوبه مو داسي روزنه ونه کړه د خپلو ماشومانو سبا به پرې تاسو د شرم او خجالت احساس کوئ، همدا ډول چې لوی سي سبا همدا خپل اولاد په خپل شېرين پلار شرميږي چې ملګري يې مېلمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي پلار ته وایې چې ته کوټې ته مه راځه، په ښار او یا بازار کې خو پر لار هم یوځای نه ورسره ځې پرې شرمیږي ځکه دده انډیوالان بیا پېغور ورکوي، حال داچې بیا یې مسؤلین تاسو یاست ځکه تاسو چې په ماشومتوب کې ددوی ښه روزنه ونه کړه نن به دی د خپلو هغو ملګرو پر قدم ځي کومو چې په ماشومتوب کي دی ستاله لاري اړولی دی.

ملا اکا هم لنډې خبري وکړي او خبري یې پري کړي، ماهم د مننې په خاطر سر ورته وښوری او ددوی دواړو خبري مي معقولې او پرځای وګڼلې ځکه همدا ستونزه زموږ د ټولنې او ملت ستوزه وه، ځیني یې په لوی زړه مني او ځیني نور یې بیا هیڅ ستونزه نه ګڼې او دا د وخت تقاضا ګڼې، ماهځه کوله چې خپلې خبري اوږدې نه کړم ځکه دوی مي د مجلس لپاره رابللې وو، د هګیو خوړل پای ته ورسیدو سترخوان ټول سو ګېلاسونه تبدیل سوه ترخې چای پکښې واچول سوي د ګېلاس ترخولې نرم تاو را ولاړیدی ددوی مخونو ته مي ګېلاسونه ورسول غمي کاکا بیا د نسوارو بوتل ته یو ټک ورکړ او وروسته یې نسوار ترې وکړ ځنګ یې بالښت ته ولګوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځوانانو مسولیت!

ملا اکا تر تګ مخکې لنډ نصیحت موږ دواړو ته وکړ او ویې ویل: موږ او تاسو ښه مجلس وکړ، خوشحاله سوم چې تاسو دعوت راکړ، زموږ د ټولنې ځوانان ځانونه له ملایانو ګوښه کوي، ډیر یې مجلس ته نه ورځي، دوی هم ملامت نه دي زموږ د ځینو ملایانو هم د نصیحت او سپکاوي ژبې یوه وي په عام محضر له یو چا کالي و باسي؛ خو دا هم د اوسنۍ زمانې د ځوانانو ملامتیا ده چې دوی ځانونه ډیر روشنفکران ګڼې او محرابه فاصله لري.

زموږ مسولیت هم په ټولنه کې تر عامو خلکو زیات دی، همداسې به راځخه په هغه دنیا کله چې راپورته کړل سو، پوښتنه به راځخه وسي چې ته وارث د انبیاوو وې تا له خپل علم څخه ټولنې ته کومه ګټه و رسوله او تا د الله ج د دین لپاره په ټولنه کې کوم تبلیغ وکړ، خبره مې تر مسولیته کوله الله ج دې موږ ته توفیق راکړي چې د خلکو د اصلاح په موخه نیکه لار تعقیب کړو، ددوی ترمنځ د یووالي او سولې لار ته تبلیغ وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ځوانان هم ترمور کم نه یاست، تاسو د ټولنې د ملا د تیر حیثیت لرئ، تاسو مو هم خپلو مسولیتونو ته متوجه اوسئ، د یو او بل له پښو خاورې مه کاږئ، همیشه په خپلو مجلسونو کي غیبتونه مه کوئ، قوم پرستي، نژاد پرستي او سمت پرستي مه کوئ ټول سره ورونه یاست، د یو او بل په پرمختګ مه سوځئ، د یو او بل ملا ور وتړئ، همایت یې وکړئ او ترمنزله یې ورسوئ، د بل په شتمني ځانونه مه خپه کوئ، تاسو ته به یې هم الله ج درکړي، په خپل منځ کي یو او بل ومنئ، د یو او بل خدمت وکړئ، پېغور ورکول ودروئ، غلط القاب یو او بل ته مه منصوبوئ، د خپلې کورنۍ د حیثیت څادر هسک و ساتئ، پلار باید په تاسو فخر وکړي، له زغم څخه کار واخلئ، بې صبري مه کوئ، د مشرانو عزت وکړئ، پر کشرانو شفقت وکړئ، که دا کار تاسو ونه کړئ نو له بل چا څخه یې هم د ترسره کولو طعمه مه کوئ.

ښه اخلاق ولرئ، نور متاثیره کړئ، یو او بل درک کړئ ترک کوئ یې مه، د تعلیم لپاره زمینه مساعده کړئ، جهالت له منځه یوسئ، یو او بل ته علم ورسوئ، جاهله ټولنه د ټولو په زیان ده، نن چې هره ستونزه را پیښه ده منشا یې جهالت او بې علمي ده، د ښوونکو مقام لوړ وساتئ، هغوی ته په ټولنه کي په لوړ احترام قایل سئ، همیشه زده کوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسئ تر څو نوي څه زده کړئ، علميت د مکتب، پوهنتون او ماسټري په ترسره کولو سره نه پوره کيږي هميشه هڅه کوونکي اوسئ، همت ولرئ، ستونزو ته مه تسليميږئ، نزاکتونه زده کړئ، نور خلک له ځانه مه خپه کوئ، زغم او حوصله ولرئ که غواړئ چې ځوانان پاته سئ کفايت کوي چې همدا لار ښووني عملي کړئ، ژوند به هم درڅخه رازي اوسي او تاسو به هم ترې رازي ياست.

ملا اکا خبري بس کړي او د اجازې غوښتلو لپاره يې خبره وکړه ما او غمي کاکا هم بغير له څه ويلو د راتګ په خاطر ترې منته وکړه او د رخصت په موخه ورسره ولاړ سوو.

ملا اکا ولاړی زه او حاجي غمی کاکا سره پاته سو اوس نو چای هم پر خلاسيدو وي او غمي کاکا هم د خپل زړه ټول بارونه کښته کړي وو، غم او ګيلې يې اوس ختمې وي، زړه يې ډاډه وو چې خير په دې وطن کي به يو وخت ضرور د علم، امن، سولي ورور ولي او استراحت لمر شغلې خپروي، بيا به زموږ هيواد نه ورانيږي، هيوادوال به د څو پيسو لپاره نورو ته جاسوسي نه کوي، نوی نسل به د ملي فکر، وطنپالنې، علميت او خود کفايې په فکر د هيواد په هره دښته کي خپلي نغمې زم زمه کوي، کوچيان به بيا د غرو لمنو ته و خيزي او رمې به و څروي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زمینه مساعده سوه د کوچیاني قوم لپاره سیار معلمان او امکانات پیداسوه دا به یوه بله بیړئ هم له جهالته و ژغوري په همدې فکر کي وو چې غمي کاکا و خندل ښه په زوره زوره یې وخندل په خندا کي یې وویل یا الله ج موږ ته د عمل کولو، صبر کولو، یو بل منلو او تسلېمیدلو توان او توفیق راکړي، نن مي زړه خالي سو او ستا هزار بار شکر ادا کوم زما ربه!.

غمي کاکا هم راڅخه رخصت واخیست د موټر کرایه مي ورکړه، خدای خبر چې پر کومه به تللی وي، خو زما ورسره ډیر سات تیر سو، پر ډیرو مسایلو یې ښایسته خبري وکړې، د تجربې خاوند وو، د وطن مینې لیونی کړی وو هر ځای چې وي، اباد، سرلوړی او هوسا دي وي.

و من الله توفیق.

۱۴۰۱/۳/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوټ:**

**درنو لوستنکو هیله ده چې د همدې کتاب په لوستلو مي ستاسو وخت نه وي ضایع کړی، همدا لومړی چاپې اثر دی الله ج فرمایې چې ما انسان ضعیفه پیداکړی دی، نو هیله ده چې په خپل لوی والي سره مو ما وبخښئ.**

**که کوم پېشنهاد لرئ نو د ایمیل له لارې یې راسره شریک کړئ، که مو همدا کتاب خوښ سوی وي، نو هیله ده چې د خپل علمیت او وظندوستۍ له خاطره ورسره انځور واخلئ او په ټولنیزو رسنیو کي یې نورو ته د لوستلو بلنه ورکړئ.**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**